


# رېبار

حاجي فضل ربي

Raibar

حاجي فضل ربي

# Raibar

کله چې ما د خپل زوړ کتاب "رېبار"
د تجسس یوه لیواله تنده سره اولوستلو نو زما
چې دا غونډه کائنات پاک رب شوه زه په دې اورسېدم
تخلیق کړې دي چې پرې پوهه په یو خاص ردهم
انساني روح او ډېره بې فطرت باخبره وجود
ده چې کوم انساني تخلیق یا اظهار ده. هم دغه وجه
سره هم آهنګ وي هومره قابل فهم څومره فطرت
او ښایسته ګڼل کیږي یعنې حقیقت فطرت بې کششه
هم آهنګي ده او مجاز هاغه فني کاوش سره
دی چې د فطرت نقالي پکښې کیږي او څومره
د فطرت نه لرې وي هومره مبهم او بې کششه
وي. ما د خپل د روح د تندې اظهار همېشه
په رنګونو کړې دی چې ما په مخصوص فن کښې نو
خو اوس زه په دې پوهه شوم چې د فن
بلکه تصوف دی ولې چې د خپل روح تنده په نا
خپل خالق ته رسېدل دي

رفیق خټک

اعراف پرنټرز
محلہ جنگی پشاور
091-2580006
aarafprinters@gmail.com
fb.com/Aarafprinters002

# ربیار

## حاجی فضل ربی خان سرتېز





دَ دې کتاب ټول حقونه دَ جرګې سستم په حق کښې خوندي دي

ضابطه:

دَ کتاب نوم: ربیار

شاعر: حاجی فضل ربی سرتېز

کمپوزر: سلېمان کامل

اِملا: پرفېسر ابراهیم اظهار

سر ورق: رفعت خټک

اهتمام: دَ جرګې ملګري

چاپ: جنوري 2015ء (اول)

رابطه: 03339038149

درکونه:

دیره، حاجي فضل ربي تحصیل جهانګیرے، ضلع نوښار

مرکه پبلي کېشنز، الله اکبر جومات سره نزدے، پورې هوتي مردان



www.pukhto.net

# ترون

دَ هغه احساس په نوم چې زهٔ ئې دې ته وهڅولوم
چې ما دَ خپلې پوهې ټولې ملغلرې دَ خوږې مور (پښتو)
دَ غاړې هار کړې
ولې کهٔ څوك څومره هم بااثره وي خو چې دَ مور سالو ئې
تار په تار وي، بې پته ښکاري

حاجی فضل ربي سرتېز
تندرك (جهانګیرے)
15-11-2014





# فهرست

1. اغاز 7
2. دَ سرپاڼې پس منظر، مصنف 8
3. استدعا، مصنف 13
4. دَ کتاب ضرورت او اهمیت، پروفېسر ډاکټر عرفان خټك 15
5. تږې تمنا 17
6. دعا 20
7. توبه 22
8. تربیت 24
9. وحدانیت 28
10. اطاعت 32
11. کاسیر اشنا 36
12. خویونه 39
13. جرګه 41
14. دَ سرو زرو مرغۍ 43
15. دَ روح مور 46
16. محفوظه غېږ 50
17. ناپېدا وارثان 52
18. شیطاني مرضونه 54
19. جهادِ افغانستان 57



www.pukhto.net

| | |
|---|---|
| 20. بلا عنوان | 60 |
| 21. چاربېته | 62 |
| 22. عجيبه معجزه | 64 |
| 23. دَ گستاخۍ منبع | 68 |
| 24. ژوند | 71 |
| 25. قبوله دعا | 72 |
| 26. وران کنډر | 73 |
| 27. پېشن گويي | 76 |
| 28. دَ بوتلونو مشين | 79 |
| 29. زما او دَ کال مقالمه | 81 |
| 30. شکر دے | 83 |
| 31. متضاد خويونه | 87 |
| 32. ماشومتوب | 88 |
| 33. سيالي | 89 |
| 34. بزدلي | 93 |
| 35. ژوندے بابا | 94 |
| 36. دَ ماچين دَ ښاپېرو په نوم | 96 |
| 37. زړۀ سترے انتظار | 100 |
| 38. يو سوچ | 105 |
| 39. بين المذاهب هم اٰهنگي | 108 |
| 40. عذر | 111 |
| 41. رہبار | 112 |







| | |
|---|---|
| 42. غزل | 115 |
| 43. ډېرې لويې سلسلې دي | 116 |
| 44. ښه نو لېونۍ لوپټه ونغښته | 117 |
| 45. دَ زړگي تېزندۍ | 119 |
| 46. مينه وسپړه سرتېزه | 121 |
| 47. اے شهيد دَ بالاکوټه | 123 |
| 48. هر يو څيز دے خرڅېدونکے | 125 |
| 49. زړۀ دَ کومې کوڅې سپے شوې | 127 |
| 50. علمونو لېونتيارو | 129 |
| 51. غزل لا مرور شوے | 130 |
| 52. دَ يار سترگې | 131 |
| 53. پوهې دلالئې | 132 |
| 54. يو سر وي صدقه شي | 133 |
| 55. متليزې قيصې | 134 |
| 56. ناجانه شان رحمت | 136 |
| 57. دَ رب مينه | 139 |
| 58. تصوف | 142 |
| 59. فطرت | 146 |
| 60. خويونه | 148 |
| 61. مونځ | 151 |


رہبار فضل ربي خان سرتېز

www.pukhto.net

اغاز

رب مو داسې پردي مۀ کړه
چې مو مور کوڅو کښې ژاړي
رب مو داسې دَ ځان مۀ کړه
چې مو خپلې پوهې داړي
رب مو داسې اړك مۀ کړه
چې هر څوك رانه ځان نغاړي
رب مو داسې بې خلې مۀ کړه
چې مو زړۀ سهارې غواړي

رب دې وکړي چې رحمت شو
چې خویونه مو زیبا شي
چې خپل کور او خپل اختیار وي
او سیالو کښې مو ساه راشي





## دَ سرِ پاڼې پس منظر

زۀ کور کښې بیمار پروت وم چې یو خوب مې ولیدۀ او هم دغې خوب زما دَ نسلي تاریخ نظریه ښېخې مشکوکه کړه ـ ما خوب لیدۀ چې یوه ښائسته او درونده خصلته پېغله دَ غر په یو سرسبزه غونډۍ ولاړه، لوپټه ئې په دواړو لاسو په سر داسې نیولې ده چې یخ شمال ئې لکه دَ جنډې رپوي او هغه په یو مضبوطه او دعوىٰ ګیره لهجه کښې یو ښائسته نظم وایي ـ

زۀ په خوب کښې دَ دې نظم په تاریخي پس منظر کښې ورډوب شوم، زۀ وینم چې دَ شپږو درنو تپو مشران چې جُمله اولیاء دي ناست دي، یو دستاویز ئې لیکلے دے چې پکښې دَ هغه ټولو عهدو ذکر دے دَ کومو ذمه دارئ چې تر قیامته دَ حضرت ابراهیمؑ دَ درېمې بي بي دَ بچو په غاړه دي ـ مشرانو په دستاویز خپل مهرونه ولګول دَ خاورې په کوزړۍ کښې ئې خوندي کړۀ او اوپه خپل مینځ کښې موجود یو درونده خوږ مشر له ئې اماتناً حواله کړۀ ـ ما په خوب کښې محسوسوله چې مونږه پښتانۀ هم دَ دغه تپو په ټبرو کښې یو ټبر یو او په هغه تپه کښې شامل یو چې دَ کومې تپې نمائندګي هم دغه درونده خصلته مشر کوي ـ دَ دستاویز په نزد زمونږ دَ پښتنو په غاړه دَ دینِ حق په کلکه



www.pukhto.net

ملګرتیااو په اخره زمانه کښې چې دنیا به په یو لویه دجالي کشاله کښې کښېوزي، په دغه مذهبي کشاله کښې دَ اسلامي اقدارو محافظه او یرغل کوونکې دسته جوړېدل او دَ دغه ټولو ذمه دارو دَ پاره دَ ټاکلې شوې سیمې او خویونو حفاظت دے.

هم دغه وجه ده چې څوك پښتون هم دَ خپلې زمانې دَ اسلام نه وتے دے، پښتنو له پښتو نه اېستے دے. هم دغه دَ لوړ مقصد پاسداري ده چې مونږه پښتانۀ دَ خپلې سیمې او دَ خویونو دَ خصمانې دَ پاره دَ هرې زمانې جابر قوتونو سره په جنګ یو.

دې سره زۀ راوېښ شوم خو ذهن مې دَ دې خوب له سِحره ازاد نۀ شۀ، سوچونو واخستم چې اخر مونږه ولې ومنو چې مونږ بنی قطوره یو؟ ځکه چې زمونږه اکثر رواجونه خو تورات شریف سره سمون خوري. لکه نسل په پټکې دے، مشرے زوے دَ پلار په ځاے دے، معافي په ننواتې ده، دَ خپلو پښتنو نه علاوه باقي دَ جمله اقوامو سر او مال بې قدره دے. دَ دې ټولو ثبوتونو په رڼا کښې داسې ښکاري چې کله دَ بابل باچا بختِ نصر یروشلم فتح کړۀ نو دَ بني اسرائیلو څنې قبیلې بندي شوې او څنې وتښتېدې چې پکښې یوه قبیله دَ نورو قبیلو نه ورکه، سره دَ خپله توراته، دَ افغانستان غرونو ته ورسېده او هم هلته مېشته شوه. تورات شریف ئې قانون او رواج وګرځېدۀ او تر اسلامه ئې





مکمل رواج وو ولې چې دوي بیا بل شریعت نۀ دے لیدلے کۀ انجیل مقدس دَ روژې حکم نرم کړے هم دے خو دوي له ئې هېڅ پته نشته ، دَ دوي په کتاب کښې دَ اخري شریعت حکم موجود وۀ چې کله دَ مدینې نه اواز تر دوي ورسېدۀ، نو دوي موازنه وکړه، نخښې نښانې ئې وپېژندې او ټولو پرې ایمان راوړۀ. هغه ټول رواجونه چې دَ نوي شریعت نه مکمل خلاف وو، ختم کړې شو او باقي مانده موافق رسمونه دَ پښتو په نوم ژوندي پاتې شول.

خو ما چې دَ خپل لیدلي خوب په رڼا کښې دَ بائبل مطالعه وکړه زما شك دَ ختمېدو په ځاے نور هم مضبوط شۀ ، ولې چې تورات شریف کومې احکامي سلسلې ته وئیلے کېږي په هغې کښې دَ حضرت ابرهیمؑ نه واخله تر حضرت موسیٰؑ پورې نازل شوے شریعت، دَ قاضیانو دور او دَ حضرت طالوتؑ پورې دَ بني اسرائیلو تاریخ شامل دے. دَ حضرت داودؑ نه دَ زبور شریف او دَ حضرت عیسیٰؑ نه دَ مقدس اناجیلو سلسله شروع کېږي، ان تر دې چې قرانٰ مجید دَ دین ابراهمیت سلسله دَ بنی اسرائیلو نه بنی اسماعیلو ته منتقل کړي او اعلان کوي چې



www.pukhto.net

**اليوم اَكْملتُ لكمُ دِينكم و اتممت عليكم نعمتی**؛ يعني په ما دَ دين تکميل وشۀ۔

دغه توراتي پېغمبرانو په معاملاتو او په عباداتو کښې څۀ لږ شان پېش رفت خو کړے دے، خو دَ صحيفه ابراهيم عقائد، پېشن ګويۍ او شريعتي اصول ئې بلکل هم نۀ دي چيړلي، مونږ ته چې په تورات کښې خپل کوم خويونه ښکاري دا دراصل دَ صحيفۀ ابراهيم هغه اصول دي چې تورات شريف خپل کړي دي، بنی اسرائيلو کښې خو دَ انبياو سلسله جاري وه، معاملات بدلېدل، دَ زړو صحيفو اصول دَ نوي صحيفو په شکل کښې دَ مذهبي اساس په توګه منلے کېدل خو بل طرف ته چې حضرت ابراهيمؑ دَ خپلې درېمې بي بي نه پېدا اولاد شرقي ملکونو طرف ته راولېږل نو هم دغه ابراهيمي شريعت دَ هغوي رسم رواج جوړ شۀ او کله چې په بنی اسماعيلو کښې اخري پېغمبر مبعوث شۀ نو دَ دوي سره موجودې پېشن ګويۍ او دَ دوي رسمونه رواجونه په تائيد کښې ولاړ وو او دوي په اخري بنی حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ايمان راوړۀ او دَ دين ابراهميت دَ تکميل په قافله کښې شامل شول۔





زۀ چې خپل دا ليدلے خوب دَ دين ابراهميت په غلبېل چاڼوم نو ما ته داسې محسوسېږي چې دا په غر ولاړه دروند خصلته پېغله پښتو ده او دا په سر لکه دَ جنډې رپېدونکې لوپټه هغه دعویٰ ده چې ټولې دنيا ته ئې په ګوته کوي چې مونږه پښتانۀ اشرکندي نه بلکې دَ دينِ ابراهمي اصل وارثان يو ، دَ هغه دينِ ابراهمي چې يهوديان، عيسايان او مونږ مسلمانان ئې په شريکه دعویٰ دار يو، نۀ وران کاري يو او نۀ جاهلان، بلکې دَ هغه مقاصدو حفاظت کوو کوم چې دَ دستاويز په نزد زمونږ په غاړه دي۔

خوب خو خوب وي او بيا دَ يو عام انسان خوب چې روح ئې دَ نفس په ولقه کښې بند وي، هېڅ دليل نۀ شي جوړېدے خو بيا هم .....

خوب غټ نعمت دے اظهار وشي
نۀ ئې محصول شته نۀ دليل نۀ پېغورونه

خوب کښې دَ يار غېږه روا ده
دنيا ته وايه ما دې نۀ حلالوينه

په خوب کښې وشي خوب پرده ده
وېښې دعوې دَ سرې خونې ورانه وينه

خوبه مخ توره ميرات خوره
په ما دې اورکړل دَ سکنې ماښام سبلونه



www.pukhto.net

# خوږو وروڼو خوېندو ته
# دَ اوښکو په ډکو سترګو استدعا

زمونږ قامي زوال او په دنیا کښې ډېر په تېزۍ سره دَ لادینۍ خورېدو زهٔ دې ته مجبوره کړم او دا ما په ځان فرض وګڼل چې زهٔ یو داسې مضمون ولیکم چې زمونږه دَ ربښتوني دین اصلي او سپېځلي مخ تمامې نړۍ ته ښکاره شي ـ دَ مضمون مسوده ما په اردو ژبه کښې تیاره کړه خو یوه اندېښنه زماپه زړهٔ کښې پرته وه چې زما په شان دَ یو غېر معروف لیکوال لیك به هېڅ توجه ونهٔ مومي، ما له پکار دي چې زهٔ دَ دې اهم لیك نه اګاهو خپله یوه وړه شان مجموعه شائع کړم چې په لیکوالو کښې شمار شم او زما دې اهم لیك ته توجه ورکړے شي ـ

دَ شاعرۍ دَ مجموعې دَ پاره هم ما دَ اردو انتخاب وکړهٔ ولې چې ما سره دَ اردو یوه مکمله مسوده بېخي تیاره پرته وه خو چې کله ما په هغه مسوده کار شروع کړهٔ نو ما ته به په هره لحظه داسې محسوسېده لکه چې زمونږه مور پښتو لَوړ په لاس زما په سر ولاړه وي او ما له زورنه راکوي چې تهٔ هم لکه زما دَ هند دَ باچایانو بچو په شان بې پته بې نمکه اوختې، هغوي توره او حکومت په لاس زهٔ سیاله نهٔ کړم او تهٔ یو لوے جهاد ته وردانګې خو خپل سر دَ خپلې مور (پښتو) دَ ښکلولو محتاجه نهٔ ګڼې ـ

ما ورته ووې چې ولې نه مورې! خو ویرېږم په دې چې هسې نه زما فلسفې چرته ستا په لمن کښې میراتې نهٔ شي ځکه چې ستا لمن





خو مونږه (ستا بې حسه بچو) له اوله شاړه میره کړې ده ـ مور پښتو ژبې په ډېره ډاډ ګیرنه لهجه جواب راکړهٔ چې نه بچیه؛

هار شه دَ یاقوتو منتظرې غاړې ډېرې
ناستې دي باران ته هډ زرغونې شاړې ډېرې
دروند پښتون پتکے،کهٔ ولي نهٔ دے خالي نهٔ دے
غېږه پُښتنه کښې عزت ډېر دے ویاړې ډېرې

ما ورته ووې چې ټیك ده، وشوه مورې زهٔ به دا خپله ژړا په دې طمع خپلو هوښیارو او اثر لرونکیو وروڼو خوېندو ته ورپه غاړه کړم او دَ رهنمایۍ په انتظار به ورته کښېنم چې دَ ټول هندوستان نه ئې دَ سرو زرو مرغۍ جوړولې شوه چې دَ اسلامي ائین سینګاوڼ جوړېدے شول چې دَ خپلې سیمې او خویونو دَ حفاظت دَ پاره دَ هرې زمانې جابر قوتونو سره جنګېدے شول نو دَ خپل ځان سپورې او دَ خپلې مور پښتو سالو هم جوړېدے شي خو کهٔ بیا هم ......... نو مورې!

پُل صراط به ورته نیسم
ترې نه به غواړمه دَ خپل حق حسابونه
پُل صراطه ور دې بند کړه
چې مور ئې ژاړي ورله نشته جنتونه
باغوانه باغ به دې تالاشي
چې شنهٔ طوطیان درنه پردو پټو له ځینه

دَ درهنمایۍ په انتظار ناست ستاسو ورور
حاجي فضل ربي سرتېز



www.pukhto.net

# دا کتاب او دَ دې کتاب اهمیت

ښاغلے فضل ربي سرتېز دَ شعر و سخن دَ غورېدلي ګلستان هغه ځانګړے سپرلے دے چې دَ فنِ شاعرۍ په مروجه رنګونو ئې دَ خپل انفرادي اسلوب داسې رنګينې او حسينې پلوشې ورګډې کړې چې دَ شاعرۍ دَ جدت رنګونه ئې دَ علميت، تاريخ اسلام او دَ عرفان او دَ فرقان حميد په حقيقي ځلا وپړقولې۔ دَ دوي بحرونه کۀ هر څو اوږدۀ دي خو اوږدۀ حقيقتونه او تاريخونه ئې دَ شعر په قالب کښې داسې رانغښتې دي لکه چې په کوزه کښې ئې سمندر رابند کړے وي۔

دَ حاجي فضل ربي خان سرتېز دَ شاعرۍ دَ سوچه اسلامي سوچ، دَ معاشرتي او مسلکي غلط فهميو دَ لرې کولو، دَ معاشي ستونزو دَ هوارولو او په تېره تېره دَ اخلاقي اصلاح اړيکې، دَ کشمير مسئله او دَ پاکستان په خپل کور پوره يو خود مختاره ملك دَ جوړېدلو يوه صفا سوتره لاره ده۔ دَ دوي لب ولهجه کۀ لږه شاړه ښکاري هم خو دَ اولسي لهجې يو موثره نمونه ده او هم دغه وجه ده چې په زړۀ او ذهن ژور اثر کوي۔ زۀ چې دَ هرې زاويې نه دَ سرتېز (جی کا) دَ شعر و سخن په رنګين ګلستان نظر غورځوم نو دَ اخلاقي، معاشرتي، معاشي او مذهبي څلورو واړو معيارونو علويت او ارفعيت پکښې موندے شي۔ په دغه ټولو حوالو دا کتاب زۀ او زما عالمان، پوهان او شاعران ملګري په دې غرض





لوستونکيو نقادانو، ژبپوهانو دَ علم او فهم خاندانو ته پېش کوو چې دَ دوي دَ ژور بصيرت نه تېر شي او نور هم وسنجولے شي چې په بېن المللي ادبياتو کښې خپل ځاے پېدا کړي او هر څوك ورته دَ غوره تصنيف سندونه ورکړي۔ مونږ چې دَ دې کتاب په جمله خوبيو نظر اچوو نو په دې نتيجه رسو چې داسې دَ علوي معيار، مذهبي، تاريخي، ادبي او علمي کتاب ولې نه زمونږ دَ طالب علمانو دَ رهنمايۍ دَ پاره دَ هر ټولګي په نصاب کښې شامل کړے شي چې دَ نوي کول اذهان دَ علم او عرفان په پلوشو نور هم وځلوي۔

په اخره کښې دَ لوستونکيو نه هيله لرم چې دا کتاب به په زور او زېر ولولي او مونږ به دَ خپلو درنو رايو نه خبر کړي۔

ستاسو ورو

پروفېسر ډاکټر محمد عرفان خټك

اکوړه خټك

10مه جنوري 2015ء



www.pukhto.net

## ترږې تمنا

ما ته ئې وئيل چې ما قرآن ته حکم کړے دے
ځان کښې لټون وکړه دَ ژوندون چل مې درکړے دے
ما ته ئې وئيل ګله دَ اوښکو ډيوې بلې کړه
تا ته به ښکاره شي تا ته تاج مې په سر کړے دے
غواړې کۀ امان له ډوبېدو نه نو کشتۍ کړه ځان
ما اجل پاګل په کندو کودرو راسر کړے دے
وخت دې ځان له بله کوتنۍ وربل له جوړه کړې
ستا وجود مې ستا دَ روح دَ غېږې دلبر کړے دے
کومه هغه غېږ ده چې ئې خپل مئين سېزلي دي
کرښې دَ عظمت ئې په تندي راله راښکلي دي

ما ته ئې وئيل چې څه ستا اوښکه مې رېباره کړه
تا لره راتګ ته مې يو نوې لار سينګاره کړه
ستا دَ پاره ستا دَ ماشومانو تلوسو په نوم
لومې او کوړکۍ وې بلا لاړ مې ترې اوزګاره کړه
حکم کۀ سُور اور مې شي دَ ځان په ماتېدلو کښې
شه دَ ادمؔ اوښکه ځان مې غېږ ته راګوزاره کړه
زۀ به ستا په شونډو جنتي ګلونه وشيندم
تۀ دې خندونې کوکۍ دَ اوښکو غمګساره کړه
ستا معصومو اوښکو مې بلا بندونه وړي دي
کرښې دَ عظمت ئې په تندي راله راښکلي دي





ما ته ئې وئيل تا به دَ کُل عالم دلبر کړمه
تا ته به دَ زړونو دَ پېوند اُستاذي درکړمه
ستادَمخ رڼا دَ نظرِ تول به بادشاهي کوي
تا به لکه نمر دَ موسمونو پېغمبر کړمه
تۀ دې دَ حکمت دَ جنجيتوب بختونه وليکې
زړونه به فوځونه کړم او تا به پرې افسر کړمه
بخت او اجل پرېږده چې پنډۍ په ګډا ماتې کړې
تۀ به يې ژوندے دَ بقا خوي به دې څادر کړمه
مونږه دې اقا سره پاخۀ لوظونه کړي دي
کرښې دَ عظمت ئې په تندي راته راښکلي دي

ما ته ئې وئيل چې ستا په سر به دستار وګنډم
تن او استقلال به دې دَ صبر په تار وګنډم
مينه، تحفظ، امن به ستا دَ وجود سپورے وي
ستا په کړو او وړو کښې به کردار دَ روئيدار وګنډم
حُسن ادګانې دې دا ستا په سپورې ناستې وي
ستا دَ لمن سپورې کښې به سُر دَ بهار وګنډم
تا نه به عالم زما دَ حُسن تپوسونه کړي
تا به غېږ کښې ډوب کړم ستا قدم کښې به لار وګنډم
مونږه دې په ژبه احمدي نغمې ګنډلي دي
کرښې دَ عظمت ئې په تندي راته راښکلي دي



www.pukhto.net

ما ته ئې وئیل ګله راځه مینه مې لاره ده
ځان ورته قابل کړه دَ غوثئ کُرسئ اوزګاره ده
ما ته ئې وئیل چې دَ قیامت نخښې راپورته دي
یو صدئ نیازبینه مې ساتلې ستا دَ پاره ده
ټول عالم ځنګل دے خپل زړګے له ګوتې ونیسه
مینه کۀ هر څومره لېونئ ده وفاداره ده
دا دَ بالاکوټ زلزله دا دَ اباسین چپې
ښايي چې سجده تشه دَ سر ښېخي بې کاره ده
مونږه دې بې توله په زړګي مینې پېرلي دي
کربښې دَ عظمت ئې په تندي راته راښکلي دي
***





# دعا

اے دَ وجود دَ زرغونې مالکه
زما په زړۀ کښې ګلستان جوړ کړه
اے له اوياو مېندو خوږه ربه
ما نه په زوره خپل جانان جوړ کړه
اے په يو خاص ردهم دَ تول خالقه
ما نه ښائسته ښکلے ديوان جوړ کړه
اے په هر کېف په هر ادا قادره
ډوګر راواخله ما بوستان جوړ کړه
اے اداګانو له مهاره مولا
ما نه لالے دَ کُل جهان جوړ کړه
اے دَ عزت اے دَ حکمت خاونده
زما شعرونه طبيبان جوړ کړه
دَ خناس ښکار نۀ شم ټېله په مخکښې
زما په ولو کښې چشمان جوړ کړه
شېطان په مثل دے کاسيره جينئ
ما له دَ صبر زنځيران جوړ کړه



www.pukhto.net

قسمت دې پرېږده چې مکرونه کوي
له ما نه پاك ساك مسلمان جوړ کړه
جنت موندو له جنتي خويونه
په سترږن عزت مې شان جوړ کړه
زړګے او عقل کړي جګړې الله
دوي نه خوارۀ څنګي ياران جوړ کړه
ما کړه رہبار دَ خپل ښائسته نازونو
زما دَ ليك نه ترجمان جوړ کړه
ضمير او عقل سادګان لېوني
په ياري پوهـ څوکيداران جوړ کړه
مينه او ما او دَ خواخوږو دعا
مونږ نه دَ يو سنګر ياران جوړ کړه
چې خلق ومني زبرګي دَ غزل
زما غزل شپول دَ ايمان جوړ کړه
ګني نو لاړۀ سرتېزے دې غرق شۀ
نفس ئې په روح باندې حمله کړې ده
يا به شرف مړ شي يا به مړ شي اجل
ما په اجل دَ مرګ دعوىٰ کړې ده

***





## توبه

تن له دَ ژوندون اصول، روح له کليمه توبه
ناسته دَ جنت په ور، غېږ وه غوړېده توبه
مونږه ولې وژاړو، مونږ له کله غم او زيان
تېر ژوندون بلا پسې، ورك کړه ديوانه ديوان

مونځ کامل نظام دَ ژوند ، مونځ دے تربيت دَ تن
مونځ ژوندے ميزان په لاس، مونځ دے دَ الفت چمن
مونځ دَ تن ښائست عزت،مونځ دے دَ عظمت نشان
تېر ژوندون بلا پسې، ورك کړه ديوانه ديوان

خېټې دَ شهوت روژه، دا کوَرې نيمګړې دي
بد وئيل او بد کتل، بد مو اورېدلي دي
سوچه پېزواني اوسه، ورك شي بې موګي غويان
تېر ژوند بلا پسې، ورك کړه ديوانه ديوان

حج دے دَ وحدت احساس، حج دَ معاشرت اصول
يو خطبه يوه سجده، دغه دَ ملت اصول
مونږ چې يو تولګے نه شو، شنډ دَ ابراهيم اذان
تېر ژوندون بلا پسې، ورك کړه ديوانه ديوان



www.pukhto.net

کوم زکواة دَ روح دښمن، تن ئې سوالگر کړے دے
کوم دستور دَ ړوند عقل، حسن دوکه کړے دے
ژاړي دې بې نُوره زړهٔ، ستا بابا ژوندے قرآن
تېر ژوندون بلا پسې، ورك كړه ديوانه ديوان

غوښته او توبه څهٔ ده، خوي دَ غوښتې ځيز خپلول
مينه عبادت څهٔ دے، تن له تربيت او شپول
بې دينه سرتېزه زړهٔ، ارت کوَرے کندهٔم پېزوان
تېر ژوندون بلا پسې، ورك كړه ديوانه ديوان

***





# تربيت

دَ اعوذُ بالله من الشيطٰن الرجيمo په اساس ليکلے شوے دا نظم دراصل دَ رټلي شوي شيطان نه دَ پناه درخواست او مونږ له پوهه ده ، چې شيطاني حربې وپېژنو او هغه ټول بدرنگ خويونه تُو کړو کوم چې زمونږ دَ دواړو جهانو دَ بربادۍ سبب جوړېږي؛

پناه له ازازيله كهٔ الله مې وسيله شي
توبه له کوتاه عقله شه علمونه مې دوکه شي
توبه له تنګ تربتې سينې هېڅ زغملے نهٔ شم
دعا دَ غټې ټټر چې راته هر څهٔ حواله شي
توبه له داسې ځوانه چې دَ غېږ ستر ئې نهٔ وي
پناه له داسې پېغلې چې شيشکه مستانه شي
توبه له بې وقوفو مشرانو بچي سخت کړي
پېغور چې څومره ورکړي مينه هومره پُښتنه شي
توبه له داسې خلې چې ئې دَ عقل واګې نهٔ وي
توبه له داسې زړهٔ چې چرته سپورے وي مېشته شي
توبه رهبانيته سړے ځان ته کړې ترغاړې
دَ رب نائب به نهٔ وي څو کهٔ پاکه فرښته شي
توبه له داسې سترګو چې خپل زړهٔ له ضرر پېښ کړي
توبه له داسې سوچه چې هوس پرې اموخته شي



www.pukhto.net

توبه له داسې زړهٔ چې ځان کښې زړونه راپېدا کړي
يو زړهٔ وايي وردانګه بل ئې پښو کښې زولنه شي
توبه له کنجوسۍ نه مال شي خوړ له عزتونو
توبه شه له اسرافه چې عزت دې په پېسه شي
توبه شه لواړه ژبه دَ سړي نه غوېے جوړ کړي
سړے چې سړے کېږي هومره ژبه ئې پسته شي
توبه شه له نفرته نفرت کرکې دي تيارې دي
تهٔ پاك او صاف وسېږه چې دې رب زړهٔ کښې دېره شي
توبه دَ سخا ناولي سوچه ځان بربادول دي
ذهنونه چې ګنده وي نو تمام ماحول ګنده شي
توبه منافقته دَ روحونو بيماري يې
کېزه دَ ضمير وشلېږي نفسونه اواره شي
توبه مې له اسرو شه چې عزت پرې تالا کېږي
لعنت په هغه توره چې په خپلو وينو سره شي
توبه له داسې رزقه چې ژوندون په غم ککړ کړي
توبه له داسې خېټې چې عزت وخوري مړه شي
توبه شه له نشو چې دَ احساس رګونه چېړي
چې هر وخت سينګارېږي دَ سړي څرمن سپېره شي
توبه بوټه وربوځه سړے يك يواځې پرېږدي
په غنو او ازغو کښې به څوك څهٔ رنګه دېره شي





توبه خواره زړګيه بهانې لرې بسيارې
تهٔ غوارې چې زهٔ ړوند يم دنياګۍ دې هم ړنده شي
توبه له بُزدلۍ نه ښائسته ښکلي کړې غوا رنګي
قربان له بهادرۍ نه چې بدرنګ رنګ پرې ښائسته شي
توبه له اوږو سترګو هر څهٔ خوري او نهٔ مړېږي
کهٔ سترګې مو مړې شوې نو نفسونه به ماړهٔ شي
توبه دَ نفس له مينې چې کړي شوې وعدې هېرې
تهٔ روح سره په خلهٔ شه چې رايادہ دې وعده شي
توبه له بد عمله په نسلونو اثر پرېږدي
روحونه وي صلبونو کښې روحونه ابته شي
توبه شه دَ سيالۍ فضول خرچۍ ترې پېدا کېږي
لعنت شه هغه دوو چې نهٔ ئې پوله نهٔ جنډا شي

لعنت شه هغه مينه چې ښائست په تُهمت رنګ کړي
لعنت په داسې حُسن شه چې مينه پرې ړنده شي
لعنت په ګمراهۍ شه په زړګي تيارې خورې کړي
قربان له عبادته سخا خيچن نفس پرې ښائسته شي
لعنت په داسې ځوان شه چې نهٔ قد لري نهٔ سپورے
لعنت په هغه پېغله چې پواړه شي ګنده شي
لعنت بې ځايه ځان دے دَ خپل رب په کور کښې کښېنه
شليدلے رېبنه ګۍ شي معززه چې جنډا شي



www.pukhto.net

لعنت جمهوريت شه چې دَ تول په ځاے شمارل کړي
لعنت شه سوشلزم چې نمړۍ دې بنډاره شي
لعنت شه په لعنت چې مينه ورکه شي پېدا شي
جذبې چې زړۀ کښې مړې شي لعنتونه ئې وړمه شي
لعنت زما په پت شه امانت ساتلے نۀ شم
چې کور شي بې مالکه سامان ټول تالا والا شي
لعنت شه لعنتي چې دَ سرتېز غاړې له درومي
ملنګو سره زيست خو په ډېر، عفوه، دلاسه شي

***





## وحدانيت

دَ توحيد يقين لا اله الا الله او جدوجهد ئې محمد رسول الله دے، يعنې دَ يو الله لويي په زړۀ کښې کښېنول او دَ حضورصلی الله علېه وسلم په مبارکو طريقو ژوند تېرول.

دَ توحيد په يقين ليکلے شوے دا نظم دَ "لا اله الا الله" په وساطت دا ثابتوي چې دا غونډ اشياء او کېفيات بې اثره دي، دې کښې يو څيز يا کېفيت هم په خپله دَ خپلو خصوصياتو مالك نۀ دے. دَ دې فلسفې په تائيد کښې مصنف دَ اسماني کتابونو نه څو حقائق اخذ کوي او دا خبره ترې ثابتوي چې د اعمالو نتيجه دَ اشياو په فطرت نه، بلکې دَ رب تعالی په مرضۍ اړه لري. دَ ثبوت دَ پاره؛

1. دَ شېطان مردود کېدل او دَ حضرت ادمؑ له جنته راېستل.
2. دَ رب تعالی له جانبه دَ حضرت ادمؑ په خمبير کښې عقل پوکل او دَ مور بي بي حضرت حوا په وېنا منع شوې مېوه خوړل.
3. دَ حضرت نوحؑ اوږد او زړۀ سترے تبليغ دَ طوفان سبب جوړېدل.
4. په طوفان نوحؑ کښې دَ اقليت په ځاے دَ اکثريت ډوبېدل.
5. دَ حضرت نوحؑ دَ زوي غرقېدل.
6. دَ حضرت ابراهيمؑ له اوره او دَ حضرت اسماعيلؑ په چاړۀ دَ حلالېدو نه حفاظت کېدل.
7. دَ حضرت يعقوبؑ دَ زوي په غم کښې ړندېدل.
8. دَ حضرت يوسفؑ دَ لاس نه دَ مصر مملکت له قحطه بچ کېدل



www.pukhto.net

9. دَ حضرت یوسفؑ خرڅېدل.
10. ګناه ګاره زلیخه بچ کېدل او بې ګناه حضرت یوسف په جېل کښې بند ېدل.
11. دَ عبادت ګزار حضرت ایوبؑ بیمارېدل.
12. دَ حضرت عزیرؑ مړ خر ژوندے کېدل.
13. دَ بني اسرائیلو توبه ځان وژلو سره مشروطه کېدل.
14. دَ حضرت طالوتؑ باچا کېدل.
15. په اصحاب کهف دَ وخت نۀ اثر انداز کېدل.
16. دَ نېنوئ دَ خلقو دَ ګمراهو په وجه رابرپا شوے عذاب دَ هغوي دَ پېغمبر حضرت یونسؑ په غاړه کېدل.
17. دَ کشتۍ او دَ مهي خویونه بدلېدل.
18. دَ حضرت یحییٰؑ حلالېدل.
19. دَ حضرت عیسیٰؑ دَ خپل شاګرد په سازش نیول کېدل او
20. دَ حضور صلی الله علیه وسلم دَ دواړو کونو دَ سردار دَ جوړېدلو حوالې درج دي؛

1. پوهه دَ زړۀ تار دے نو ذلت کښې غورځېدو ولې
علم خو هوښیار دے له جنته راوتو ولې
2. عقل دَ رب نُور دے فرښتې ورته سجدې کوي
عقل کۀ ئې نُور وے په خندا دوکه کېدو ولې
3. لوړ دے محنت لوړ دے مرتبې دَ کړنې لوړې دي
څو صدۍ او څو بوټي پټے ویجاړېدو ولې
4. ګڼه وي په حقه کۀ هر څومره ناتوګلي وي
ګڼ خو دَ نوح قوم وۀ نو سېلاب کښې غرقېدو ولې





5. نسل پُر اثره وي دَ ښو غوښو شورا وي ښه
زوے دَ پېغمبر، کنعان متهکو کښې چورلېدو ولې
6. اور شولو ګونګرے، پسه چاړۀ مرګ بې اثره شۀ
غرق شۀ بُت پرست اذر اولاد ئې بچ کېدو ولې
7. ویښ قسمت نور څۀ وي چې اٰبا دَ مرسلانو شۀ
ویښ قسمت کۀ ښۀ وے دَ زوي غم کښې ړندېدو ولې
8. ښۀ وي الهامي علم یو ملك له قحطه وباسي
وخت تسخیر کوونکے په کوهي کښې غورځېدو ولې
9. ناز او اداګانې ئې فوځونه باچایي کوي
حسن کۀ بادشاه وے په بازار کښې خرڅېدو ولې
10 ښه بې ګناهي دَ باد لمن په ازغیو نۀ نښلي
چا لمن شلولې وه څوك جېل کښې ترسېدو ولې
11 ښۀ دے عبادت ښه دَ اٰقا دَ بنده مینځ کښې لار
ښۀ دے عبادت نو پاك ایوب بیمارېدو ولې
12 مرګ دَ ژوند انجام دے په رښتوني پردې راکاږي
مرګ کۀ اختتام وے نو مړ خر ژوندے کېدو ولې

13 لویه پښېماني وي بد اعمال توبه ئې ووینځي
قام په کړو ستومان له خپله لاسه قتلېدو ولې
14 هر یوې عهدې ته یو طبقه وي هر یو کار له کُول
حق دَ سردارانو وۀ ګډبه باچا کېدو ولې



www.pukhto.net

15 وخت دے بې پروا قد او قامت او هنر نۀ مني
وخت کۀ وې بې نیازه نو له غاره ترېدو ولې
16 اورو دا ړوند کوڼ عذاب دَ بد اعمالو سېورے خو
غټې کلے ئې پرېښود په کشتۍ باندې راتلو ولې
17 ښۀ وي ښۀ او بد وي بد دَ دې تمیز به څوک کوي
ښې کشتۍ کړۀ لړه بد مهي کښې پائېدو ولې
18 پاك اوسېدل ښۀ وي پاك پوشاك سوباړي نۀ وهي
خلقه پاکونکے په چاړۀ حلالېدو ولې
19 ښۀ وي عقیدت حسد، لالچ او هوس نیشت کړي خو
رنځ ته مسیحا په څو درهمو خرڅېدو ولې
20 درز دے دَ لوړ علم ټول عالم ورته مختاجه دے
تاج وۀ چورلېدونکے دَ اُمي ص په سر کېدو ولې

لا دي اله په اشیا کښې اثر نشته دے
بې له یو الله چې بل ورګے ئې په ور نشته دے
نشت او دَ شتۀ مینځ کښې بې نیازه قدرتونه دي
پوهې سرببرې دي پېژوانده اٰیاتونه دي

***





# اطاعت

جګړه دا نۀ ده چې دین څۀ ته وایي؟ ولې چې دا خبره هر چا ته معلومه ده چې دین دَ وخت دَ پېغمبر په الهامي نزول ایمان راوړل او دَ هغۀ جمله قولي، عملي او تدریسي احکامو اطاعت دے، بلکې جګړه دا ده چې اطاعت څۀ ته وایي؟
دَ محمد رسول الله ص په اساس لیکلے شوے دا نظم دَ قاري په ذهن کښې یو سوال پېدا کوي چې اطاعت دَ احکامو دَ نفس پېروي ده؟ کۀ نه دَ احکامو دَ منشا منل دي؟ دَ جواب دَ پاره دَ خوږ نبي دَ اقوالو او دَ اعمالو نه څو ثبوتونه پېش کېږي ان تر دې چې نظم څومره په وړاندې ځي قاري په دې مطمئین کېږي چې اطاعت دَ احکامو دَ نفس نه بلکې دَ احکامو دَ منشا پېروي ده او دَ هغۀ دَ زړۀ نه هغه ټول خناسي تعصبات وځي چې شېطان ور کښې دَ مسلکي فرقو په وساطت اچولي دي؛

لاره وسیله ده کۀ مطلوب زمونږه لار
کاڼو ته سجده ده کۀ مسجود پرودرګار
دین دے پند وعظونه کۀ اصلاح دَ مخلوقاتو
ګڼو ته شپېلۍ کۀ نه شپونتوب دَ تبلیغ کار
کاڼو ګواه اوسئ عبادت نه وي بې عشقه
وینه په پڼو کښې او طائف له استغفار



www.pukhto.net

تېښته له وطنه دَ وطن دَ پاره خوند کړی
لاړهٔ دَ مکې له غېږې ووتهٔ روئېدار
تګ ئې وهٔ یثرب ته خود ثور په غار ئې شپه کړه
ښايي مونږ امت له تحفظ دَ دين دَ لار
اوسي مدينه کښې منافقو سره غاړه
خوند لا سېوا کېږي چې ګل وي په مينځ دَ خار
دين دے ترجيحات جنت کوڅه په کوڅه ګرځي
کله کعبه ګل کړي کله بدر کړي سينګار
يو تنظيم چې مات شهٔ سل عشقونه ئې لاهو کړل
وهٔ ګني اُحد کښې په سونو جانثار
تن دَ خندق څهٔ وهٔ حکمتونه راښودل وو
زغم، دَ پوهې قدر، مشوره، جديد هتيار
قضا دَ سعد رض ښايي اسلام رد نهٔ دے تکميل دے
قتال دَ قريظه، رجم او عهد استوار
دين کامل علاج دے ده ګواه حديبيه پرې
اوښه وه اړکه کهٔ وهٔ امن استوار
عقل ئې هتيار وهٔ او حکمت ئې وو ډالونه
فتح شوه مکه شهٔ بريالے دَ اور کردار
جهاد دے جراحت کهٔ جهاد تنده دَ سرو وينو
دولس قطرې توې شوې او مکه شوله سينګار
طمع، اسره، ويره چې بُتان نهٔ دي نو څهٔ دي





نهٔ ښايي خالق او دَ مخلوق مينځ کښې ديوار
دين سزا جزا ده کهٔ دَ ځاے دَ وخت جګړې
ځاے دَ بد خصلت دے کهٔ سجين وي او کهٔ غار
بُت چې زړهٔ نه لر کړې په يو څو سجدو به پاك شې
وباسه درنګه له کوهي بيا دَ بوقو شمار
ما لره همه صحابه واړه معتبر دي
مور دَ پلار مې جنګ دے زهٔ مور وګټم کهٔ پلار
وقف دي جائېداد شهٔ ستا بيبياني زمونږ مېندې
اے زمونږ آقا ص تهٔ مو سردار ئې تهٔ مو پلار
څو مينې بې توله څو سوالونه بې جوابه
نُور دے هم بشر دے هم نبی دے هم سردار

يو خوا جبرائيل حېران ولاړ وزر ئې سوزي
بل خوا دے اودهٔ په زمکه پاك نبی روئيدار
يو خوا ئې په يو اشاره پړق شي سپوږمۍ وچوي
بل خوا دَ خوږ دين په تهمت غرهٔ کښې رايسار
يو خوا سخت خندق دے لوږې تندې هېبتونه
بل خوا يو چيلے دے او پخه غوښه انبار
يو خوا دے شفيع دَ شفاعت واکې په لاس کښې
بل خوا دَ اُمت په غم کښې ژاړي په زار زار



www.pukhto.net

یو خوا مینه مینه ده رشتې ترې نه توکېږي
بل خوا تش قانون دے نهٔ ئې مور شته نهٔ ئې پلار
یو خوا داسې ښکاري چې سرتېزه بالغان یُو
بل خوا هر ګُټ پېر کښې خوږ بابا مو څوکیدار
یو خوا دَ تن ختمه جنتي ده مستي غواړي
بل خوا راته وايي پېزواني دې کړه اشعار

یو خوا مو رسولؐ پل ئې رهبر قول ئې پاسبان دے
بل خوا دے نیازبین دَ فرښتو نُور دَ سبحان دے
یو خوا دَ مور غېږ، دَ پلار اوږه دَ زړهٔ جانان دے
بل خوا تش قانون میزان په لاس ژوندے قرآن دے

ځان خو بې شك ځان دے خو حېران یم دَ کوم ځان شم
نفس زړهٔ پېزواني کړم کهٔ دَ کور دَ کلي خان شم
کوم اړخ ئې ښکل کړم دَ کوم رُخ ئې ثنا خوان شم
ربه ما غزل کړه چې ئې شان باندې قربان شم

***





# کاسیر اشنا

شاعري دَ خپل سینګار دَ پاره زمونږ نه څهٔ څهٔ اخلي او په بدل کښې مونږ له څهٔ راکوي. دَ ټولو شاعرانو نه ډېر په معذرت او دَ روماني او انقلابي شاعرانو نه په خصوصي توګه دَ معافۍ سره:

مصنف ځان دَ شاعرانو دَ نمائنده او غزل دَ شاعرۍ دَ نمائنده په حېث پېش کوي او دا خبره په ګوته کوي چې شاعري چې اصلاحي میراث دے کله هم خپل اصلي مرام ته نهٔ ده رسېدلې. کهٔ دَ انقلاب خبره ئې کړې ده نو دَ خوني انقلاب جامه ئې اغوستې ده. کهٔ دَ امن درس ئې ورکړے دے نو دَ کاهلۍ او بې حسۍ څادر ئې ورته په سر کړے دے. کهٔ دَ مینې ذکر راغلے دے نو دَ تهمتي عشق وکالت ئې کړے دے، کهٔ دَ روزګار بحث چېړلے شوے دے نو لکه دَ یو افیمي په شان ئې خپل زړهٔ له په سونو بهانې جوړې کړې دي او ځان ئې په دې مطمئین کړے دے چې زمونږ دَ شاعرانو نوم او عزت خو به دَ مرګ نه پس راژوندے کېږي. زمونږ په دې دنیا څهٔ؟ او بیا هم دغه بهانو ته ئې دَ اشعارو پُرکېفه جامه اغوستې ده او په نسلونو ئې وېشلې ده.

مصنف دراصل دَ دې نظم په وساطت دا احساس بېداروي چې شاعري دې هم لکه دَ سائنس په تجزیاتي اساس یو ژوندے او



www.pukhto.net

مفید شکل وومومي، ولې چې شاعر معاشرتي مجتهد دے او هر مجتهد دَ خپلې زمانې دَ مروجه علومو ارتقايي مشال او اصلاحي مفسر وي۔

راځه چې کنبېنو سره، چې خپلې ښې وتلو
ستا په راکړې مقام، دَ ژړا شپې وتلو
راځه چې سپینه کړو نن، دَ دلدارۍ خبره
زۀ شوم سوالګر دَ کوڅو، ستا دَ سیالۍ خبره
راځه چې غاړه ورکړو، ظالمه کړم دې ویجاړ
غزله ورك شې غرق شې، غزله تا نه څۀ لاړ

منم چې پوهه لرم، طاقت ئې تا وخوړۀ
منمه سُر دَ مینې، تا په لېلا وخوړۀ
منم شهرت دې راکړۀ، خو سر ببرلېونے
منم عزت دې راکړۀ، ځان ته دې کړم سپلنے
خپله ځواني ونه دې، کړله په ما سینګاره
زما کاسیره یاره، دا تۀ په څۀ خفه یې

تا خو وئیل روا دي، زړۀ کنبې دې لارې وکړې
زۀ دې دوکه کړم په ننګ، مستۍ دې چارې وکړې
تا خو وئیل پاګله، قسمت ژوندون وګڼه
دَ عقل ونۀ منې، رواج جنون وګڼه





تا خو وئیل یمه ستا، ژوند دې کړۀ ما له لتاړ
غزله ورك شې غرق شې، غزله تا نه څۀ لاړ

زما عظیم سوچونه، تا ترې نه یار وبښۀ
کتکے دَ ژوند دې زما، دَ غم په تار وبښۀ
زما قرآن په حقه، هېڅ څۀ کولے نۀ شم
دننه تن کنبې جنګ دے، ځان خلاصولے نۀ شم
زۀ دې تباه کړم سپېرۀ، اے شرابي دلداره
زما کاسیره یاره، دا تۀ په څۀ خفه یې

زما باغي غزلې، لکه نشې خوروم
زما رنګین شعرونه، مستې نخرې خوروم
زما در ځاره مزاج، ما په روزګار وتړه
زما فهمونه دَ دین، دَ روح په تار وتړه
مانه چاپېر غمونه، زۀ دې بندي کړم په باړ
غزله ورك شې غرق شې، غزله تا نه څۀ لاړ

ما نه دې جوړ کړۀ دلال، په ما دې یار سینګار کړۀ
دَ قام نوخېز مستقبل، مې دَ جنونه ځار کړۀ
دَ رب ډالۍ وه لېلا، نعمت مې خوار و زار کړۀ
دَ دین مرتد پاګل مو، دَ تصوف سردار کړۀ
زۀ دې قاتل دَ دین کړم، زۀ دې کړم غرق کفاره
زما کاسیره یاره، دا تۀ په څۀ خفه یې

***



www.pukhto.net

## خويونه

عقل څۀ دے غټ نعمت دے
سليقه دَ ژوند ساتل دي
بې عقلي څۀ ده سرتېزه
بې مهاره ګرځېدل دي

پوهه څۀ ده اهليت دے
په خپل ګټه پوهېدل دي
ناپوهي څۀ ده سرتېزه
بس بې ډنګه ګډېدل دي

سياست پوخ بصارت دے
حاجتونه جوړېدل دي
تصوف څۀ دے سرتېزه
معرفت ته رسېدل دي

عبادت خو تربيت دے
پېژندل دي پوهېدل دي
هوښتيارتيا څۀ ده سرتېزه
دَ قرآن لمن نيول دي





ژوندون څۀ، عزت، ذلت دے
ژړېدل دي خندېدل دي
اخرت څۀ دے سرتېزه
په دې دوو کښې يو وژل دي

کۀ جنت غواړې سرتېزه
امانت، صدق، سخا کړه
کۀ دوزخ غواړې سرتېزه
خيانت تن کښې پېدا کړه
څۀ چې غواړې هغه وېشه
قدرمنه ودانېږي
دا اصول دَ پاک الله دي
اوبۀ ډنډ چې شي سخا کېږي

***



PUKHTO.NET
www.pukhto.net

## جرګه

خنګه چې بدني بيمارۍ وي کۀ علاج ئې ونۀ شي او پرهېز ونۀکړې نو لا زياتې شي او اخر دا چې انسانان ترې مړۀ شي ـ هم دغه رنګ نفسياتي بيمارۍ هم دي چې بې علاجه شي خونړۍ دښمنۍ ترې نه جوړې شي ـ سرونه کورونه ان تر دې چې نسلونه تباه کړي ـ په مخلوقاتو کښې صرف انسان له خدا ے پاك دا شرف ورکړے دے چې هغه خپل غونډۀ مسائل په مذاکراتو او په پوهه ختمولے شي ـ

د مسائلو د حل د پاره هر قام د خپلو رواياتو مطابق څۀ دود دستور جوړ کړے وي چې ائين ورته وئيلے شي او د هغه ائين تحفظ چې کوم حدودات کوي هغه قوانين ګڼلے شي ـ يعنې د قوانينو مقصد انصاف نه بلکې د قام د نظرياتي، معاشي او د جغرافيايي اساسو پاسداري ده ـ

دغه رنګ جرګه هم انصاف نۀ دے ولې چې انصاف صرف د پاك رب ذات کولے شي ـ جرګه فقط د معززينو هغه کاوش دے چې هغوي پرې د شريعت، قانون او علاقايي رواياتو په رڼا کښې رواني کشالې هواروي، خو ځنې معاملې داسې هم راشي چې د وخت تقاضې څۀ بل څۀ وي او عقل يا قانون څۀ بل څۀ وايي ـ دا نظم د څۀ دغه رنګ غلط فهمو ازاله کوي؛





### متېزتوب

په قانون په شرعه درست دے، چې رضا وي نکاح کېږي
متېزتوب د شملې جرم، جينکۍ پرې څۀ پوهېږي
زړۀ کښې وايي دا مو حق دے، مور او پلار به رضا کېږي
کۀ هر څو وي ګناه ګارې، هلکان جرمانه کېږي

### مرګ

سړے تنګ شي نو په جنګ شي، کۀ ئې ژوند او کور ورانېږي
قېد، پانسۍ ته غاړه کېږدي، کۀ په ژوند دوزخي کېږي
خو پېغور به قاتل وينځي، يا به مري يا به جرمېږي
مړے چرته چا تللے، خو پېغور تللے کېږي

### جائېداد او رويه

جائېداد څۀ سبا د بل دے، نقص ئې هر وخت ښکاره کېږي
قانون پوهه په پتهوار دے، په تقسيم باندې پوهېږي
رويه د ژوند پوشاك دے، وخت ماحول سره بدلېږي
جرګه هغه قصور وينځي، په وينځلو چې پاکېږي

***



www.pukhto.net

## دَ سرو زرو مرغۍ

دَ رېبارِ فلك نه ماخوذ دَ کشمیر په کشاله او دَ هغې په حل جوړ شوے دا نظم دراصل دَ بېدارۍ احساس دے او مونږ له پوهه ده چې دَ مشترکه هندوستان نه پېدا دواړه بچي (هند و پاك) سره یو شو، هغه ټول ملکونه ځان سره یو کړو کوم چې مشترکه برصغیر کښې موجود دي او دَ سرو زرو دَ مرغۍ په نوم دَ یو داسې ښائسته او مضبوط یونین بنا وکړو چې خپله کرنسي او خپل مضبوط علمي، معاشي او حفاظتي وحدت لري۔

په دې نظم کښې مور، دَ مشترکه هندوستان زمکه ، غوا دَ هندو کلچر، اس دَ اسلامي کلچر او مینا دَ ریاست جمو کشمیر په اصطلاح استعمال شوي دي؛

یو مور نه پېدا بچي، لوے چې شي بیلېږي به
ضد وي دَ ځوانۍ سیالي، خپلو کښې جنګېږي به
مونږ دَ ازاد شوې مور، مونږ دوو سیالي ګر بچو
یو دَ بل له ویرې، نه، خپل دوتر مو ویشۀ

ستا شوه ستا نیازبینه غوا، ما چې چپه کړې وه
ما له شۀ زما اسګے، تا ترې غړۍ وړې وه





ګُټ کښې یو مینا ښائسته، ضد نوره ښائسته کړله
تریو تندي او بوټ وربوز، دواړو ورحمله کړله

اوس دَ مینا تن دے ستا، ما له ئې غړګے جناب
تا ته ئې پټي عزیز، ما له ئې جهلم، چناب
تۀ خو ما پاګل ګڼې، لومې دي پېوندې کړې
ما دَ دې له ویرې، نه تا کۀ اوبۀ بندې کړې

ایوې، جغ ګاڼه مو کړل، نول وسله مو واخسته
ما مرچغنه لاس ته کړه، تا نېزه راوخسته
تۀ شوې راغوټه په ما، ما دې پوزه ما ته کړه
تا راله دښمن کړۀ ورور، ملا دې راله ما ته کړه

نیشت مو کړل خپلۍ ځادر، غوا اسپه مو خواره شوه
مور زمونږ دَ سرو مرغۍ، لاړله خېر ماره شوه
حسن ورله ناز چې وۀ، حسن مو ترې واخستۀ
مونږ له وې کونجۍ پکار، مونږ لوړ راواخستۀ

مشره بېګاه خوب کښې ما، مور په ژړا ولیده
تار په تار سالو په سر، ما بې نوا ولیده



www.pukhto.net

مشره خوب کښې وینم مونږ، خپل مسیحا ووژل
ښخ مو کړهٔ حکمت او پت، ټول جنجیان مو وسېزل

مور مې راته ووې بس، ماتې رشتې جوړې کړئ
ور دَ کوځې یو ښهٔ دے، کور کښې کوټې جوړې کړئ
تاسو دَ یو مور بچې، ما ته غېږه دین نهٔ دے
ومنۍ تقسیم دَ کور، مات انګړ ائین نهٔ دے

هسې نه زما حُسن، بیا تاسو له اور نهٔ شي
هسې نه څوك بل جابر، تاسو له پېغور نهٔ شي
حُسن شي تالا والا، مات چې زنځیرونه وي
ورونړه خو وي پت ناموس، ورونړه خو شپلونه وي

***





# دَ روح مور

لکه څنګه چې زمونږ یقین دے چې قرآن مجید ژوندے دے او څهٔ رنګ چې یوه مور په خپلو بچو پوهېږي او هغوي له دَ هغوي دَ وجودي تقاضو مطابق تربیت ورکوي هم دغه رنګ زمونږ دا ژوندے ائین لکه دَ روحاني مور مینه په زړهٔ او میزان په لاس زمونږه تربیت کوي، مونږ کښې زمونږ اودهٔ اهلیتونه رابېداروي چې خپل هغه کور (جنت) له مو واپس بوځي دَ کوم نه چې مونږ دَ خپل نیکهٔ په وساطت رابستلي شوي یُو۔

نظم دَ تربیت دَ پاره انساني وجود په پینځو درجو منقسم کوي۔ اولنۍ درجه دَ فطرت ده چې منبع ئې انساني ارواح دي دا نظم هغه ټول خویونه په ګوته کوي چې په عالمِ میثاق کښې ترې نه پاك رب زمونږه فطرت ساز کړے دے۔ دوېمه درجه دَ جبلت ده چې کله پاك رب دَ وړومبني انسان وجود دَ جنتي ختې نه ساز کړو او هغهٔ ته او دَ هغه په وساطت دَ هغهٔ په صُلب کښې موجود غونډ انساني ارواحو له چې ئې کوم جنتي خویونه ورکړل هغه دَ هغوي جبلت وګرځېدهٔ۔ درېمه درجه دَ معاشرت ده یعنې معاشره چې انسان له کوم خویونه ورکوي  څلورمه درجه دَ عباداتو ده یعنې هغه خصوصیات او خویونه کوم چې دَ عباداتو په وساطت دَ انساني ژوند خاصه جوړېږي او پینځمه درجه دَ نصحیت ده چې په حقوقو او فرائضو اړه لري۔



www.pukhto.net

ستا روح څهٔ دے زندګي ده، ستا روح مینه ده فطرت دے
دا ستا روح دَ ژوندون تله، روح ائین دے روح قدرت دے
روح ګواه دَ تېر میثاق دے، بندګي ده عبادت دے
دَ روح لاره دَ وفا ده، دَ روح غږ انسانیت دے
روح دَ زړهٔ سترګې غوړوونه، بصارت دے سماعت دے
دَ روح ژبه کهٔ ګونګې ده، سر تر پایه معرفت دے
رب په پوخ جلب تړلے، راشه تا پرې پوهومه
زهٔ قرآن خپلو بچو ته، خپل نظر ښکاره کومه

ستا خمبیر کښې تیتېدل دي، سر دې ټیټ کړه پاك الله له
چې جمال جلال منل دي، زړګے ورکړه مصطفیٰ ص له
ستا خمبیر کښې سُرودنه، تهٔ ښائست او سرور غواړې
ستا خمبیر دَ جنت خته، سُر نشه په ځان کښې نغاړې
ستا خمبیر کښې امارت دے، تهٔ دَ خپل وجود امیر شه
ستا خمبیر کښې سرکشي ده، دَ نفس غاړه کښې زنځیر شه
هغه تا نه ورکې شوې، سلسلې در یادومه
زهٔ قرآن خپلو بچو ته، خپل نظر ښکاره کومه





دا ستا صُلب کښې ستا تخمونه، زر خېزي ځان کښې پېدا کړه
چې بچو کښې دې نُور راشي، دَ زړهٔ غولے دې صفا کړه
دا ستا سترګې ستا غوړوونه، دا ستا پوهه ستا سوچونه
چې څهٔ راوړې دَ زړهٔ کور ته، ترې نه غواړه حسابونه
دا ستا مینه ده پاګله، پاګلان ستا هوسونه
ستا خویونه لېوني دي، ورته جوړ کړه زنځیرونه
ستا وجود نهٔ دے قلعه ده، په سنګر دې پوهومه
زهٔ قرآن خپلو بچو ته، خپل نظر ښکاره کومه

تا ته شکر کښې لویي ده، شکر څهٔ احسان منل دي
تا ته ذکر کښې ژوندون دے، ذکر حق پوره کول دي
ستا روژه دَ نفس جلب دے، ستا روژه دَ روح غذا ده
مونځ دَ صبر پوهه ښایي، تقویٰ زده کړه او رضا ده
دَ مستې دَ عجز طواف دے، کهٔ دَ ژوند دواړه اړخونه
تا په زوره ژواك له بیایي، دَ هر کالې زکواتونه
ائینه ستا دَ وجود یم، ستا وجود سینګارومه
زهٔ قرآن خپلو بچو ته، خپل نظر ښکاره کومه



www.pukhto.net

په تا حق ستا دَ وجود دے، تا سره به حساب کېږي څۀ چې کر وي په زړګي کښې، په لېمو کښې زرغونېږي زړونه ټول دَ پاك الله دي، خو خپل زړۀ الله له جوړ کړه باچا هغه ځاے کښې اوسي، چې ئې شان سره ښائېږي بې له عقله خلۀ بې واکه، بې حيا سترګې بډارې دروازې چې بکې خلې وي، نو سترونه ترې ماتېږي ژوند کښې ډېر څۀ دي بينا شه، تا ته زېرے درکومه زۀ قرانٰ خپلو بچو ته، خپل نظر ښکاره کومه

***





## محفوظه غېږه

زۀ بلکل نۀ پوهېږم چې دَ وطن دَ مينې اساس څۀ دے؟ بس په دې پوهېږم چې دا خپله خاوره ما ته لکه دَ خپلې مور ښکارې او زۀ پرې لکه دَ يو غېرت مند زوي خوږېږم ـ هر حکومت کۀ وي زۀ ئې احترام کوم ـ پته نشته چې ولې؟ خو چې ما دَ حکومتي ادارو خصوصاً دَ پوليس له جانبه داسې محسوسه کړه لکه چې زۀ غټ وران کارے يم، دَ صوبې حکومت مې وليدۀ چې دَ کر کروندې زمکې ئې رانه دَ بنګله والو دَ استوګنې دَ پاره خوندي کړې ، څو داسې چيت قده سياسي مشران مې وليدۀ چې خندا په زړۀ او ژړا په لېمو زمونږه لاشونو کېش کولو ته لېواله وو نو خپل مخکښې وروستو کتو باندې مجبور شوم، ولې ځان کښې راته هم دَ مقابلې څۀ اهليت ښکاره نۀ شۀ او نۀ څوك داسې مشر را په نظر شۀ چې زړۀ کښې خلوص،تندي کښې رڼا او په سر کښې پوهه درلوده ـ ما داسې محسوسه کړه لکه چې زمونږ ژوند بېخي تباه دے بس بيا څۀ وو لکه دَ هغه ماشوم چې ويره ئې واخلي او دَ مور غېږ کښې پټ شي ما هم په تصور کښې بې اختياره دَ خپل خوږ بنی ص غېږې له ورمنډه کړه او بيا راته دا هر څۀ محض يوه برېبوکۍ ښکارېده ـ

مړ مو کړي په تور دَ ژوند ، سُور کافر پېغور دَ ژوند
مينه مو کاسيره شوه، مور زمکه مو بوره شوه
سوچ مو لېوتتاړے شۀ، ځي مستې لېلا پسې
شکر چې الله مو شته، خوږ رسول الله مو شته



www.pukhto.net

زړهٔ مو بلاګی وړے، ساګ زمونږ سیلی وړے
لارې دَ روح بندې شوې، زړهٔ سترګې پېوندې شوې
ژبه به مو بې ژبې شوه، تن کاهل بلا پسې
شکر چې الله مو شته، خورِ رسول الله مو شته

خر په ځاے کلال داغي، خان لېونے شوے دے
څوك سوزي دَ چا په سر، څوك سپېلنے شوے دے
سر دې کوتك مير پرې کړي، زمکه مردان شاه پسې
شکر چې الله مو شته،خورِ رسول الله مو شته

نيم وجود وهٔ پرې مو کړهٔ، نيم ځلور ټوټې مو کړهٔ
نيم لاونړ مو وځنبلو، نيم درياب ته توې مو کړهٔ
اوس تيارو کښې ناست نهر، ووټ مو تمبولا پسې
شکر چې الله مو شته، خورِ رسول الله مو شته

ناست په مُصلو شېخان، فوج مو دَ جنډو ځوانان
کلي دَ شاتوره خان، ښار کښې دَ چابړو ياران
تور واسکټي سکانړ جانان، ځئ چې ځو خو چا پسې
شکر چې الله مو شته، خورِ رسول الله مو شته
***





## ناپېدا وارثان

دا نظم ما په ډېر غمژن ماحول کښې ليکلے دے ۔ زما دَ غمژن کېدو وجه دا نهٔ وه چې ما څو بدرنګې پروپګنډې اوربدلے وې ولې چې زهٔ سياست او بې ګناه ازاربدل عبادت ګڼم بلکې زما دَ غمژن کېدو وجه دا وه چې زما دعویٰ غلطه ثابته شوه ځکه چې ما به وې چې کوم ملك نوے نوم ومومي لکه امريکا يا پاکستان هغه هله استحکام مومي چې دربم کُول ورکښې پېدا شي ځکه چې وړومبے کُول خو هډو دَ هغه ملك پېداوښت نهٔ وي، دوېم کُول ګو کهٔ هغه ملك کښې پېدا وي خو د اولاد ګيرۍ احساس ئې نيمچه وي ، مور پلار او استاذان ئې دَ هغهٔ نوم دَ ملك پېدا نهٔ وي، دربم کُول دَ هغه ملك سوچه بچي او وراثان وي ۔ ما به خلقو ته وئيل چې ايله اوس دَ پاکستان اصلي وراثان پېدا شول ۔ اوس به ئې نهٔ څوك غلولے شي او نهٔ به ترې ملك بربادولے شي خو چې ما وليدل چې زمونږ دربم نسل هم لکه زمونږه دَ امرانو دَ لاسو مړزان دي نو په والله چې زړهٔ مې يو درز وکړهٔ ، قلم مې رواخستهٔ او يو داسې کُول ته مخاطب شوم چې خداے خبر کله به پېدا کېږي۔



www.pukhto.net

راځئ چې ځان مشال کړو ګني ملك مو تباه کېږي
برووې، بلاګانې دَ تيارو نه پېدا کېږي
راځئ چې ويره ورکه کړو سرتوره بلاګۍ ده
چې ځان نه ځان کنبې پټ شو نو وهمونه سپوا کېږي
راځئ چې لېوني شو بدر څۀ وۀ لېونتوب وۀ
ايمان په عقل نۀ شي په اخلاص تللے کېږي
راځئ چې ادې سياله کړو راخاندي هېوادونه
راپاځئ په ګډا شئ ګلو تك وهئ لاسونه

اوس دَ پوهې وخت دے مونږ کوړکۍ او قلعې پېژنو
مونږه پتنګان دَ مور دَ مينې رشتې پېژنو
مونږه اداري لکه دَ پلار جګه شمله منو
مونږ غلامان نۀ يُو سرې خور او دوکې پېژنو
ورکه غريبي شه لوږه تنده دې ميراته شي
مونږه خپلې متې مونږ خپل لور او رمبے پېژنو
راځئ سينې له تك ورکړئ سيالي کوي خوندونه
راپاځئ په ګډا شئ ګلو تك وهئ لاسونه

***





## شېطاني مرضونه

کله چې دَ پېريانو اخري استازے (ازازيل) پاك رب په لعنت کړۀ نو هغه دَ خپل رقيب انسان دَ ګمراه کېدو دَ پاره دَ پاك رب نه يو خاص طاقت او تر قيامته مهلت وغوښتۀ، پاك رب چې هغه له کوم تخريبي خويونه ورکړل، په الهامي کتابونو کنبې ئې دَ نوم په ځاے په هغه تخريبي صفاتو ياد کړو، چې مونږه هغه ټول بدرنګ خويونه وپېژنو په نخښو او اثراتو ئې پوهه شو او ځان ترې نه وساتو، لکه؛

ابليس چې دَ انتهايي مايوسۍ ترجمان دے او هغه ټول بدرنګ خويونه ابلسيت ګڼلے شي چې مايوسۍ ترې خورېږي، خناس چې دَ هر طرف نه يرغل کوونکے خوي دے او هغه ټولې مخ په وړاندې خوړلے شوې دوکې خناسيت دے چې انسان داسې غُلوي لکه چې هغه په حقه دے. طاغوت چې دَ ظلم او جبر نه مختص دے او هغه ټولې سترې طاغوتيت دے چې دَ مذهب، نسل يا دَ جغرافيايي برترۍ دَ پاره کېږي . شېطان چې دَ ګمراهۍ مظهر دے او هغه ټول سپېرۀ او بدرنګ خويونه شېطانيت دے چې بدو اعمالو له وده ورکوي.



www.pukhto.net

چې وينه ئې سړه شي چې جذبه ئې زړهٔ کښې مړه شي
چې کور روزګار دوتر ئې لکه شاړه هديره شي
چې مخ ئې بې کششه بې نمکه شي ګنده شي
چې سخا خيچن غاښونه ئې دَ خېټې دروازه شي
چې زړهٔ سره ګزران ئې په دوکه په بهانه شي
چې مينه ئې سپېره په خپل وجود باندې تروټه شي
نو پوهٔ دې شي اخته په دهٔ مرض ابليسيت دے
دا خوي خاکساري نهٔ ده دا دَ پاك لله لعنت دے

چې ژبه ئې پسته ژواك ئې ښائسته زړګے ئې تور شي
چې مخ ئې شي بې نُوره ، نُور دَ تن په پوشاك خور شي
چې زړهٔ ئې تنګ تربت، تندے ئې تريو او خوي ئې سپور شي
چې دين ايمان تالا کړي دَ مسلك په ټټو سور شي
چې ذهن ئې ډېران شي او سخا وړم ترې راخور شي
چې جوړ ترې منافق شي ښهٔ کول ورته پېغور شي
نو ودې ګڼي دا چې دا مرض خناسيت دے
دا زهد عبد نهٔ دے دا دَ پاك الله لعنت دے





چې سپے او خر ترې جوړ شي دَ خپل نفس زړهٔ عبادت کړي
چې مينه کړي کاسيره او قامونه پرې عادت کړي
چې نُور کړي په تنور سپېرهٔ تيارو کښې حکومت کړي
چې پوهې او فکرونه په کچه ماښام رخصت کړي
چې خپل مقصد دَ پاره مذهبي بېرغ اوچت کړي
چې غټه ئې حجره شي او ناترسه سياست کړي
مرض په مرضونو کښې مردار طاغوتيت دے
دا ستړه جهاد نهٔ دے دا دَ پاك الله لعنت دے

چې نفس زړهٔ بې مهار شي نشې کړي تماشې کړي
چې پوهه بې مهاره شي بې دريغه وينې توې کړي
چې مينه بې مهاره شي شهوت ته اشارې کړي
چې حُسن بې مهاره شي نو ماتې دروازې کړي
چې عقل بې مهاره شي نو لا لارې اوړدې کړي
چې علم بې مهاره شي لګيا ځان ته سجدې کړي
دا ټولې سخا جذبې دي دَ شېطان شېطانيت دے
دا جوش دَ مينې نهٔ دے دا دَ پاك الله لعنت دے

***



www.pukhto.net

# جهاد افغانستان

دَ رہبارِ فلك اول نه ماخوذ دَ افغانستان په جهاد او دَ جهاد نه پس په خونړي حالاتو ليكلے شوے دا نظم مسلمانانو له احساس وركوي چې دَ هغوي ګټه په څهٔ سبب وه، زوال ئې ولې راغے او كهٔ هغوي دَ خپلې ګټې مېوه خوړل غواړي نو په كومو خويونو ئې خوړلے شي۔

په دې نظم كښې توتاكركي سورة فيل ته، دَ اور جلات نمرود ته، دَ كشتۍ او مهي خويونه دَ بدلېدلو واقعه حضرت يونس ع ته او دَ خويونو تضاد دَ فرغون غرقېدو ته اشارې دي۔

څو سرتېره پتنګانو، چې ماسكو پرې حمله وكړه
سوشلزم چې پاګل شهٔ، په كابل ئې قبضه وكړه

دوي اړم لكه ډوګر شول، خپل ديندارې دروازې ته
سوشلزم متې راښكې، دَ قرآن مقابلې ته

وهٔ يقين دَ چا چې شي به، توتاكركي بلاګانې
دَ كعبې به محافظې، دَ اعمالو سزاګانې





سوچ به وهٔ خو يقين نهٔ وهٔ، چې عزت اور كښې مونده شي
جلاتے به دَ اور مړ كړي، ګوډے ماشے به زمرے شي

دا په عقل پوهه نهٔ ده، چې كشتۍ دې لېونۍ شي
دَ كشتۍ محفوظ خويونه، دې مهي كښې راپېدا شي

خو نه كله كله وشي، چې سيند هم شي په دا شاندې
يو له غېږه او لاړ وركړي، بل كړي مړ په سينه باندې

پاك الله دې چې كوي ئې، څهٔ عجب شانِ كارونه
دَ تورات انجيل دَ لاسه، دَ قرآن حفاظتونه

چا له غم جمهوريت شهٔ، چا له ويره سرحدونه
په ماسكو ماما راپنډ شول، له هر لوري عذابونه

پاكستان دَ يثرب ورور وهٔ پاكستان نه حرم جوړ شهٔ
پتنګان شول سرې ډنډارې، په ماچين كښې ماتم جوړ شهٔ



www.pukhto.net

نهٔ پوهېږو وشو څنګه، خو میلو ګبین ئې پرېښو
ازار کړي قبضه کړي، کور، رواج، ائین ئې پرېښو

حقیقت دے طاقتونه، لوړ قراٰن وژلے نهٔ شي
هېڅ شك نشته ښکلي دین ته، عالم سپك کتلے نهٔ شي

نن جومات چې مو کنډر دے، غم ذلت زمونږ په سر دے
دا مو خپلو کښې پرزونې، زمونږ دین خو قلندر دے

زمونږ دین خو ائینه ده، مونږ له خپلې کړې ښکارېږي
چې مو زړهٔ کښې دَ سپو خوي دے، سپي کوتري رانه جوړېږي

دا چې مونږه یو بل وژنو، دا خو دین ایمان وژل دي
دَ مسلك په سر جګړې، لوړ قراٰن ټکړې کول دي

کهٔ قراٰن مو په ژړا کړهٔ سوربوټے سیلاب به راشي
کهٔ مو خپل جومات کنډر کړهٔ ببزوګي به راپېدا شي
***





## بِلا عنوان

چا له ګیلې یوسم په ما خپل زخمونو وخاندل
شنه شوه له خندا پښتو غېرت ننګونو وخاندل
لار کښې به تېرې تورې دَ مړو وینې ولاړې وي
غرق چې یم دَ چا دَ پاره هغه ورونو وخاندل
ورځ شوه اوس دَ شپې ډیوې له ښایي چې ځان ووژني
توي دي شي نکریزې چې دَ زلفو ولونو وخاندل

مینې تهٔ ګواه اوسه چې ما پورې نخرې وشوې
مړ شوې سرتېزیه دَ تن کور کښې دې غویمې وشوې
ستړے شوم بابا دَ قربانو چیلے دې وژاړه
پرېږده جرګې پرېږده دَ خپل کور ګیلې دې وژاړه

ستړے یم دَ ژوند دا سپېرهٔ لار دې دوباره نهٔ شي
مرګه پرده پوښه نور راڅه نوم مې ګنده نهٔ شي
څټ چې راله مات کړي او پلو مې سترګې پټې کړي
دومره غټ پټکے دې بل سرتېز ته حواله نهٔ شي
مړ کهٔ شم بیا خبر دے ازارونه خوا دې یخه کړي
دلته په ژوندون دا سپي کوترې په ما اخته نهٔ شي



www.pukhto.net

ننګ له کلي ورکړئ پرې دَ غټ سپېرۀ دعوې وشوې
مړ شوې سرتېزيه دَ تن کور کښې دې غوبمې وشوې
ژوند وي دَ ژوندو دَ تندي مړې سجدې دې وژاړه
پرېږده جرګې پرېږده دَ خپل کور ګيلې دې وژاړه

ژوند ته چې پام وکړم وېم چې اور دې په ننګ پورې شي
زۀ دې لېونۍ شم چې پښتو نوره مخ تورې شي
کور ته چې پام وکړم وېم چې تولې کړې ماتې کړه
هغه اډانه څۀ کړې بلې چې ئې نسکورې شي
ملك ته چې پام وکړم وېم چې شنه جنډا ئې وسېزه
داسې څادر نشت ښۀ دے چې ستر شي نۀ سېورے شي

هر خوا ځان ځاني شوه په ذهنونو کښې ګانې وشوې
مړ شوې سرتېزيه دَ تن کور کښې دې غوبمې وشوې
ورکې کړه رشتې دَ تن دَ روح رشتې دې وژاړه
پرېږده جرګې پرېږده دَ خپل کور ګيلې دې وژاړه

***





# چاربېته

مينه دَ يار وايي راله تول حقونه وسېزه
ځان په ما تالا والا کړه ځان په ما قربان کړه

حق په ما دَ رب دے چې له نشته ئې شتۀ کړے يم
حق په ما دَ دين دے دين په سل مزو ګنډلے يم
حق په ما دَ مور دے چې له تن ئې زېږېدلے يم
حق په ما دَ پلار دے په اوږو ئې ګرځولے يم
حق په ما دَ کور، کلي، وطن زۀ ئې پاللے يم
حق په ما دَ ښځګې په نکاح کښې ئې پېرلے يم

دا لا کوم غېرت دے سل رشتې نازونه وسېزه
مينه دَ يار وايي راته تول حقونه وسېزه
تن چې دې ګانه نۀ شي کم بخته ځان دَ ځان کړه
ځان په ما تالا والا کړه ځان په ما قربان کړه

يارې په خونخوارې ستا ګانې او شتې ناراستې دي
خوښدې مې په سر دي چې زما په سېورې ناستې دي
نول دَ دين دَ ځان دَ دود رواج، دَ اوږې خېتې نول
څومره سر ببرې بلاګانې لار کښې ملاستې دي



www.pukhto.net

ما ته دې رهبر لَوړ په لاس په سر قراٰن ولاړ
زهٔ دَ کېږې اس يم زما څهٔ کهٔ غېږې راستې دي

ورك کړه مئينتوب دَ لېونتوب شعرونه وسېزه
مينه دَ يار وايي راته ټول حقونه وسېزه
پام کړه چې دوکه نهٔ شې زړهٔ کلك تن دې سندان کړه
ځان په ما تالا والا کړه ځان په ما قربان کړه

تنه ستا دَ پاره ښائسته سترګې ژړېدلے وې
وينې په پښو کښې دَ نبی له پښو بهېدلے وې
ستا دَ نيکهٔ پت وهٔ چې شېطان ئې په لعنت کړلو
تلې چې دَ قدر ئې جنت کښې لګېدلے وې
دغه رنګ کهٔ خوې وې بس له دې به تاترين له ځې
وپوښته بابا جنت نه څهٔ څيز راپستلے وې

حسن پښتو نهٔ زده دَ رهبار بندونه وسېزه
مينه دَ يار وايي راله ټول حقونه وسېزه
روې يار ته خوږ دين کړه او جولۍ ورته قراٰن کړه
ځان په ما تالا والا کړه ځان په ما قربان کړه

***





## عجيبه معجزه

هر پېغمبر دَ خپل نازل شوي ائين منتظم او مفسر وي او دَ هر ائين ابتدا دَ سخت ترين حالاتو نه کېږي هم دغه رنګه دَ اسلامي ائين ابتدا دَ يو داسې ماحول نه شوې وه چې پکښې دَ معاش ذريعه دَ بُتانو دَ زېرګۍ ګټه او تجارتي طبقاتي نظام وهٔ۔ دَ حضورصلي الله علېه وسلم نه مخکښې يو کس زېد راپاڅي او وايي چې زهٔ بُتانو ته سجده نهٔ کوم، قام ورته وايي سل وارې مهٔ کوه خو رواج مهٔ چېړه ولې چې دَ دې بُتانو په وجه زمونږه عزت او تجارت دے۔ ورقه بن نوفل راپاڅي، وايي زهٔ عيسايي کېږم، قام ورته وايي چې مبارك دې شه خو په نظام اعتراض مهٔ کوه۔ حضورصلی الله علېه وسلم راپاڅي اعلان کوي چې ټول بُتان مات کړئ، دَ يو پاك الله عبادت کوئ چې دَ ټول کائنات او دَ غونډو انسانانو يو شان رب دے، قام پرې اواز وکړهٔ چې دے خو مجنون شوے دے ، دين سره سره راته عزت، افتخار او دَ رزق ذرائع هم تباه کوي ،کهٔ په رضا يا په مجبورو منع نهٔ شهٔ نو نعوذبالله شهيد ئې کړئ.

بيا څهٔ لږه زمانه پس دنيا ګوري چې دَ دنيا دَ ټولو نه مالداره، فاتح او تهذيب يافته قوم مسلمان دے۔ اخر دا څنګه وشول؟ دَ دې معجزې به روحاني اړخونه هم وي خو زهٔ صرف دَ دې په حکمتي اساس رڼا اچوم۔ دَ قراٰن مجيد ارشاد دے چې پاك رب فرشتو له حکم ورکړهٔ چې تاسو کله وګورئ چې زهٔ دې خپل بنده حضرت ادم ؑ کښې دَ خپل علم نه څهٔ کف کړم تاسو ټول دهٔ ته تسليم شئ۔ دراصل دغه کُف شوے نُور هغه شرف وهٔ چې څانګې ئې عقل،



www.pukhto.net

معرفت او عزت نفس وي او دَ فرشتو سجده دغه شرف ته دَ ټولو کائناتي قوتونو مسخر کېدل وو او تر څو چې دا شرف دَ انسان وجود کښې ويخ او په عمل کښې وي انسان به باضميره او کامياب وي خوکله چې دغه شرف اوده شي انسان بې ضميره او بې حسه شي ـ حضو اکرم صلی الله عليه وسلم فقط دغه اوده شرف رابېدار کړهٔ، په داسې شکل چې يو داسې مدافعتي دېوال ئې ساز کړهٔ چې دَ تېښتې ټول رورونه بند شول ـ په اصحابو ازمېښتونه راغلل، ټکرې ئې وخوړې خو ورته حکم وهٔ چې طمع، اسره او ويره ګناه ده ـ سود، غلا،ډاکه او رشوت ناروا دي ـ نشه، کاهلي، سستي، ګنده وجود، ګنده پوشاك، دَ معاشرې نه ځان له کېدل او دَ ځان وژنه منع ده نو دَ دغه ټکرو په ردِ عمل کښې داسې اهليتونه رابېدار شول چې بيا پوره زر کاله ئې په اکثره دنيا حکومت وکړهٔ او بيا ورور مونږه دغه مدافعتي دېوال ماتول شروع کړهٔ، مايوسيو واخستو، سينې مو تنګې تربتې شوې، دَ غمونو نه په نشو کښې پټ شو، دَ معاشرې نه کناره کشه شو، عن تر دې چې زړهٔ مو وريرېدونکے، وجود مو کاهله، ذهن مو غلاګر او تن مو بې حوصلې شهٔ او مونږ نه هغه ګداګر جوړ شول چې کوڅهٔ په کوڅه ګرځو، سوال کوو او دَ خپلو اسلافو فخريه قيصې وايو ا و په دې بنهٔ پوهېږو چې ........

منو کنځل، دروغ، تشدد څهٔ ده محرومي ده
بې وسه ګډېدل دي





منو چې بزدلي کړې ګناه ده کمزوري ده
خپل ځان بربنډول دي
منو چې غلا او سوال، رشوت دَ خېټې ضرورت دے
خو ځان رسوا کول دي
منو بُغض کينه حسد له اصله بغاوت دے
بې اوره سوزېدل دي
منو دَ نشو غېږه سرے غم نه کړي ويزاره
خو ځان بربادول دي
منو چې کاهلي ګنده وجود غاړه په غاړه
جذبه احساس وژل دي
منو نا امېدي دَ پاك الله نه بغاوت دے
په مينه شك کول دي
منو چې خودکشي دَ رب غصه ده ذلالت دے
تخليق کمتر ګڼل دي

منو دَ الله ورکړه ده حسينه پائېداره
خو لار ئې عملونه
منو چې په وجود کښې مو پرته لويي بسياره
خو بچ کړئ دېوالونه



www.pukhto.net

منو دین مو فطرت دے مونځ کښې غوښتې نېغه لاره
رانۀ عبادتونه
منو چې دا دنیا زمونږ دوتر زمونږ دَ پاره
عهدې ته ازمېښتونه
پوهېږو او غرقېږو، دغه دي اودۀ بختونه
دَ پاك رب عذابونه
الله خو دَ هر چا دے، په چا نۀ کوي ظلومه
راتېنګ کړۍ دوترونه

***





## دَ ګستاخۍ منبع

کله چې څو ګستاخو زمونږ دَ خوږ نبیؐ په شان کښې ګُستاخي وکړه نو دَ نورو ښارونو په شان مونږه هم جلوسونه ووېستۀ، چغې سورې مو ووهلې خو چې دَ شپې کله یواځې شوم نو یو عجیبه شان سوچ راوړاندې شۀ چې ګستاخۍ لګیا دي کېږي، دَ ګستاخو خلاف جلوسونه وځي، ګستاخ مردارېږي هم، خو ګستاخۍ کمېږي نه، بلکې نورې هم زیاتېږي لکه چې دَ دې پلیت سوچ منبع څۀ بل ځائے ده او مونږ لګیا یو څۀ بل څۀ ځائے بندوو۔

ما دَ حضورصلی الله علیه وسلم په مبارك ژوند او دَ هغۀ په تعلیماتو له نوي سره غور وکړۀ ، دَ اسلام دَ عروج او زوال دواړه اړخونه مې راوړاندې کړل، نو په دې ورسېدم چې دَ ګستاخۍ اصلي منبع زمونږ دَ مسلمانانو معاشرتي او معاشي زوال او دَ خپل دین په اصلي روح نۀ پوهېدل دي ۔

مونږه خپل وراثت چې علم، محنت، اخلاق او حکمت وۀ ، غېرو ته پرېښي دي او دَ هغوي دَ جهالت، رهبانیت ګنده خویونه مونږه اغوستي دي ۔ په دغه شپه په والله چې ډېر ویرېدم چې هسې نه خوږ نبیؐ دَ قیامت په ورځ زمونږ نه د هغه ناقابله بچې په شان مخ وانۀ ړوي دَ چا په وجه چې دَ ټول کور سپکاوے کېږي۔



www.pukhto.net

زمونږ ميراث وهٔ محنت، عقل، قلم
زمونږه دين وهٔ حوصله اطمينان
زمونږ توښه وه طهارت او حيا
مونږ وو دَ امن دَ تهذيب سفيران
خو سپېرهٔ خوي کړل رانه جوړ لېوني
دا دي شرمېږي په مونږ ښکلے قرانٰ

مېندو زمونږ په مخ توکاڼي تو کړئ
چې بوتۍ شنه شي نو نسکوره ښهٔ دے
خور فاطمې پړونے مهٔ ژاړه نور
پرېږده چې وير شي په سرتوره ښهٔ دے

زمونږ قران وهٔ معالج دَ دنيا
مونږ خلق وژنو طبيبان نهٔ يُو
ورك كړهٔ اخلاق مو لېونتيارې مينې
مونږه سپېرهٔ يُو وارثان نهٔ يُو
مونږ يُو دَ حسد دَ نفرت دلالان
مونږه دَ حسن خاوندان نهٔ يُو





مور خديجې بنو ته غوږ کښې ووې
داسې لعنت خو ورك له كوره ښهٔ دے
خور فاطمې پړونے مهٔ ژاړه نور
پرېږده چې وير شي په سرتوره ښهٔ دے

کور خو هغه دے مونږ کوروال بدل شو
ځکه مو خلق کور ته کاڼي ولي
ځکه مو مېندنو پسې کېږي خندا
چې مو ملت شهٔ جوړ دَ مړو ځلي
په وراثت زمونږ قبضه شهٔ خلق
زمونږ په غاړه دي پردي وندني

چې دَ سپېرو په شانې ژوند تېروو
مرګے له دې ژوند له پېغوره ښهٔ دے
خور فاطمې پړونے مهٔ ژاړه نور
پرېږده چې وير شي په سرتوره ښهٔ ده

***



www.pukhto.net

## ژوند

دَ روح راز په تن رقم شي، چې زړهٔ سم شي هر څهٔ سم شي
چې دَ پښې ګوته ړنده شي، دَ برچکي تار ئې دم شي
کړي دَ نوك ووړې شیشړې، جوړ جوته اوبو نه غم شي
چې شیشړې بربرې شي، سپین سلے ورله مرهم شي
چې عزت قدر ئې نهٔ کړې، کور سورلي، دوتر کنډم شي
نوم له تنه مخکښې زغلي، خوش اخلاقه محترم شي
دَ یارۍ انډر خویونه، تذکرې ئې چم په چم شي
دَ زړهٔ راز په مخ خورېږي، منافق تالو دې سم شي

هر څیز ژوند لري ژوندے دے،دَ هر څهٔ خپله خاصه ده
ځکه هر څهٔ پرې اثر کړي، چې دا هر څهٔ خلاصه ده
دَ هر څهٔ واګې ئې تن کښې، ورپه یاده هر نامه ده
هر یو څیز ورته تسلیم دے، دا اٰدمؑ دا ئې قیصه ده

***





## قبوله دعا

دَ پاك رب قانون دے چې دَ چا کومه غوښتنه قبلوي نو له اوله په غوښتونکي کښې دَ غوښتلي څیز اهلیت پېدا کړي او بیا دغه اهلیت دَ خویونو په شکل غوښتونکي دَ غوښتلو څیزنو مالك کړي . دا نظم څو ثبوتونو سره لوستونکیو کښې دا احساس بېداروي چې باید هغه له اوله ښائسته او قابل خویونه خپل کړي کهٔ هغه دَ یو موړ او ښائسته ژوند په ارمان وي۔

کهٔ پت، غیرت، خصلت غواړې، نفس له کېزې جوړې کړه
کهٔ لوړ مقام، عزت غواړې، زړهٔ کښې دېرې جوړې کړه
کهٔ حسن نزاکت غواړې، پاکې رشتې جوړې کړه
کهٔ زر غواړې دولت غواړې، له فکره لیندې جوړې کړه
کهٔ غېږ غواړې الفت غواړې،خلې له جندرې جوړې کړه
کهٔ صبر قناعت غواړې، ښې حوصلې جوړې کړه
کهٔ نوم غواړې شهرت غواړې، لوړې حجرې جوړې کړه
کهٔ تاج غواړې کهٔ تخت غواړې، دولس څېرې جوړې کړه
بیا له ربه وغواړه، رب پرودرګار منم
خو..................................................
زهٔ پتمے اول منم، بیا فصل انبار منم

***



www.pukhto.net

## وران کنډر

انسان اشرف المخلوقات دے او دَ هغهٔ په وجود کښې لاژم یو داسې اړخ شته چې دَ شرف کور بللے شي او هم دغه روحاني اړخ ته مونږه زړهٔ وایو او کله چې هم دَ دغه روحاني اړخ یعنې دَ زړهٔ نه شرف وتے دے، انسان له ځناورو نه زیات بدتر شوے دے۔

پرون په سپین سحر دَ مرګ له ویرې
ډرن زړګے له لارې وتښتېدهٔ
بېګاه په نیمه شپه کښې خپل کالهٔ کښې
دَ ور په ګرز مې زړګے ودرزېدهٔ

نن دَ عهدې په کرسۍ ناست بلا ته
زړګي مې خومره طوافونه وکړل
پرون زړګي له ګوتې ونیولم
په ما ئې سپي ته سلامونه وکړل





نن چې مې مسته ځانګه ولیدله
یوه لحظه مې زړهٔ مدهوشه شولو
دَ سرو کوکو چې تاب ئې نهٔ لرلو
کچه ایمان له زړګي وتښتېدهٔ

داسې ښکارېږي چې سرتېزه غرق شوم
زړهٔ کښې مې سل زره پنجرې جوړې شوې
زما دَ زړهٔ نه الله وتے دے جوړ
زما په زړهٔ کښې بُت خانې جوړې شوې

بس دے ورځم چې پاك الله رضا کړم
چې شاړ کنډر زړګے اباد مې شي بیا
چې لکه لُور دَ مور په غېږ کښې پټ شم
چې شي بې سبوري پېغلتوب شي بلا



www.pukhto.net

ځمه قرآن سره چې روغه وکړم
رانه رضا چې شي محبوب دَ الله
چې مینه ویښه کړم احساس به ویښ شي
غل ورك په غېږ شي او تیارهٔ په رڼا

بېدار ضمیر له به بیا واګې ور کړم
اس له کېږه ښایي سوارهٔ له همسا
دَ زړګي تاخ کښې به ډیوې بلې کړم
هر څهٔ بینا شي چې زړګے شي بینا

ولې چې تن کښې مو مورچې جوړې دي
شېطان مو نفس باندې قبضه کړې ده
ورځم چې روح سره رسۍ ونیسم
ما په میثاق ټینګه وعده کړې ده

***





## پېشن ګويي

ملك له غر، اوبهٔ، خاورې،لرګي پکار
راشئ دَ نښتر مو ځنګلونه دي
غر مو بې خراجه وریځ نه پرېږدي
دنګ لوړ دَ دېوانو دېوالونه دي
قُطب نه تر سوېله په ترپکو ځي
تښتي لېوني زموږ سیندونه دي
څه غربت سپېرهٔ دې بل وادهٔ وکړي
زهٔ دَ ژوند جنت په ژوندانهٔ وینم
زهٔ دَ راروان دور شاعر یمه
زهٔ دَ خپل وطن خاورو کښې سرهٔ وینم

ګُټ نه دَ شمال تر جنوبي ګُټه
ټوله اترايي دي ابشارونه شي
مفت به اوبهٔ خور مسته بجلي به وي
جوړ په روینده اوبو ډېمونه شي



www.pukhto.net

ګېس دَ کوهِ قاف ښاپيري څۀ کوي
هند دے بياج ګر ملك دې پېپونه شي
اوس وطنه کېږده کوږ پټکے په سر
زۀ دې په لېمو کښې موسېدۀ وينم
زۀ دَ راروان دور شاعر يمه
زۀ دَ خپل وطن خاورو کښې سرۀ وينم

چينه دَ محصول حق مې په هسك نظر
مونږ ګودر اباد کړۀ شاړې ووتې
خوږه دهلي وروره راترغاړه شه
ورکې تربګنۍ شه لاړې ووتې
روسه اوس راځه دَ تجارت په لار
پولو نه سپېرې ډنډارې ووتې
ځه تيارې ته ووايه ستا لاس ازاد
زۀ دَ شين کوتتر خلۀ کښې وانبۀ وينم
زۀ دَ راروان دور شاعر يمه
زۀ دَ خپل وطن خاورو کښې سرۀ وينم





ما دَ دنياګۍ پېزوان نيولے دے
ما ته دې شين سترګې سلامونه کړي
لاره طاقتوره وي زۀ لار يمه
پوزه کۀ چيت پوزي کبرژنه کړي
تېل مې په ايران دے بلوچے خراج
ما سره دې دا خبره سپينه کړي
رادې شي اسلام ته همګي خلق
زۀ بل دَ دنيا محافظ نۀ وينم
زۀ دَ راروان دور شاعر يمه
زۀ دَ خپل وطن خاوره کښې سرۀ وينم

***



www.pukhto.net

## دَ بوتلونو مشين

يو هُنر مند کور وۀ خو مالکان ئې ډېر ساده وۀ، ضرورت ورته دَ پيالو وۀ او مشين ئې دَ بوتلو لګولے وۀ. شپه او ورځ به لګيا وۀ خام مال به ئې بدلولو رابدلولو، جوړې شوې بوتلې به ئې ماتولې. ځوانان بوډاګان شول او ماشومان ځوانان، څوك لاړل مرور شول کور ئې بېل کړۀ او چا دَ يو بل سرونه مات کړل خو په مشين بدلېدو ئې هډو سوچ ونۀ کړۀ او لا تر اوسه لګيا دي تندي ټکوي، ځان ته خبرې او کنځلې کوي او بوتلې ماتوي. دا نظم چې دَ نظام دَ بدلون په لور اشاره ده، په دې نظم کښې هنر مند کور پاکستان او بېل شوے ورور بنګله دېش ياد شوے دے.

کوم دَ موسم ضد پوشاك
وشلوه تار تار دې شي
کوم په قرضه جوړ معاش
زړونه خوري ښامار دې شي
کوم يو دَ منصور الفت
مات تندو کښې شمار دې شي
کوم ريوايتي مذهب
بل عيسیٰؑ په دار دې شي





کوم دَ وېښو ډك شهتير
مات دے چت، ګوزار دې شي
کوم تعليم دَ بل تهذيب
ورك ئې کړه مردار دې شي

دا دے دَ زوال قانون
بې قدره ختمېږي به
دا دي دَ تخليق اصول
جوړ چې وي زياتېږي به

ملك څۀ دے، دوتر او کور
قام دَ احساساتو شپول
معاش ګوري حاجت او لار
پوهه دَ ژوند چل زدکول

يا دې دا تنکي ځوانان
وخت شان پوشاك وګټي
يا په وطن څۀ کوي
نوم شهرت دې وښتي

***



www.pukhto.net

# زما او دَ تېرېدونکي کال مکالمه

دَ 2013ء اخري قلاره شُومه ده او زهٔ يو عجيبه شان سوچ اخستے يم، ما له داسې ښکاري چې دې کال هم زما جُمله اعمال رايو ځاے کړي دي، دَ رب تعالیٰ دربار له ئې وړي چې ما له ترې دَمخکښې کال دَ پاره خويونه جوړ کړي او زهٔ بلکل هم نهٔ غواړم چې دَ تېر کال په شان سپېرهٔ او بدرنګ خويونه بيا زما په غاړه شي چې دَ غمونو او شکستونو نه بغېر پکښې هېڅ هم نهٔ وو ـ دَ دې دَ پاره زهٔ دَ کال دَ غمازۍ نه مخکښې خپله ژړا او توبه پاك رب ته وړاندې کوم چې ما ته دَ مخکښې کال دَ پاره زما دَ عمل په تله نه بلکې دَ خپل رحم او کرم په رڼا کښې خويونه جوړ کړي۔

| زهٔ | کال |
| --- | --- |
| زهٔ په قام مئين سرتېز | قام خو راشړلے يې |
| عقل مې دَ شرف کور | اوړے ئې ساتلے يې |
| ناست لَوړ په لاس ضمير | مړو ته ئې سپارلے يې |
| زړهٔ مې دَ چوتي اشنا | خپل زړهٔ خو وژلے يې |

زهٔ

کاله مرهم واخله ځه، ما زخمونه وګنډل
ټنګ راکړهٔ دَ ژوند ګړيال، کال راپورې وخندل

| زهٔ | کال |
| --- | --- |
| اوښکې مې دَ زغم نخښنه | ړوند شوې لا شرمېږې نه |
| زهٔ دَ شاعرۍ نيکهٔ | غرق به شې صبرېږې نه |





| | |
| --- | --- |
| خپل مئين ګټل سُنت | لږ شان کافر کېږې نه |
| کاله نوم عزت ګټم | ښهٔ ده خو شتهٔ کېږې نه |

زهٔ

ورك شه وير دې نهٔ کړم نور، پښې او لاس مې وشنډل
ټنګ راکړهٔ دَ ژوند ګړيال، کال راپورې وخندل

| زهٔ | کال |
| --- | --- |
| ژوند راله تباه کړهٔ تا | کوم ژوندون کاسير ژوندون |
| زهٔ معجون دَ مات زړګو | کوم دَ باوېړي معجون |
| پام عاشق وژل ازار | کوم دَ شرم ډك مجنون |
| زهٔ شاعر سينګار يم ستا | ړوند خاوند نه ښهٔ کنتون |

زهٔ

بس دے لاس په سر له تا ما شعرونه وژړل
ټنګ راکړهٔ دَ ژوند ګړيال کال راپورې وخندل

| | |
| --- | --- |
| ځه توبې ترې مخکښې شه | کال الله له تلے دے |
| غرق به مې کړي غرق دې شي | غټ بُغض ئې وړے دے |
| يا دربان ته ووايه | بيا غماز راغلے دے |
| يا ئې کړه رضا په لار | مړے چا وژلے دے |

خپل ورور ته دې ووايې، وخانده ما وخندل
ټنګ راکړهٔ دَ ژوند ګړيال، کال راپورې وخندل

***



www.pukhto.net

## شکر دے

نن دَ 2013ء دَ الیکشن لسمه ورځ ده، ټول ملګري مې غصه ناست دي لکه چې دا هر څۀ زما دَ بې وقوفتیا په وجه وشول او واقعي زما ملګري په حقه دي ځکه چې زمونږه حلقه لا دومره تعلیم یافته نۀ ده چې دَ تورې جنډې لاندې دې دَ پراونشل هاؤسنګ اتارټۍ خلاف احتجاجي ووټ استعمال کړي. زۀ دا هم منم چې دَ سیاسي پارټۍ له طرفه په الیکشن کښې ګټه سل فیصده یقیني وه ځکه چې زمونږ دَ ګروپ انفرادي ووټ ډېر مناسب وۀ خو کۀ بل اړخ نه ئې ګورې نو دَ سیاسي پارټۍ له طرفه په الیکشن به زمونږ اصل مقصد فوت شوے وۀ. مونږ به دَ پارټۍ دَ پالیسۍ نه مجبوره وو او پارټي به دَ صوبايي مفاداتو نه. بغیر له مقابلې هم کار نۀ کېدۀ، ولې چې صوبايي حکومت دَ خپل سیکشن فور حق ناجائزه استعمالولو، چې په یو سب ډویژن کښې بنجر زمکې شته نو دَ کر کیلې زمکې دَ هاؤسنګ سوسائټۍ دَ پاره دَ اخستو کوم توك. دې ټول احتجاج او دَ قانوني جګړې دَ پاره دَ یو ازاد ایم پي اے جوړېدل ضروري وو.

کۀ هر څومره دَ خاندان دَ تریو تندو او دَ غربت دَ مجبورو په شکل کښې ما دَ پاره په سوونو بهانې موجودې وې خو ما ته پته وه چې زمونږه ائنده نسل به په دې بهانو مونږه کله هم





معاف نۀ کړي بلکې په قبرونو به راله توکاڼې توکړې چې زمونږه مفاد بچ کېدے شو خو کۀ زمونږه مشرانو جرات کړے وے او خاص کر زما خو به ډېره بده ورځ وه. صرف په دې وجه نه چې خاندان او ګروپ مې دَ مشرۍ دعویٰ لرله بلکې په دې وجه هم چې زۀ یو لیکوال یم او سبا به چې کومو زلمو زما کتاب لوستۀ نو په ما به ئې تُو لعنت وې چې دا زمونږ هغه هوښیار وۀ چې دَ خپلو ډوبېدو له ویرې ئې مونږه په سیند لاهو پرېښودي وو. بس بیا څۀ وو چې دَ متاثرې علاقې نه څوك تیار نۀ شۀ، نو په خپله مې بډې راښکې، دَ سیاست ټولې هوښیارۍ مې نظر انداز کړې او ورټوپ مې کړۀ. یاران خو یاران وي کۀ سل وارې مرور وو بیا ئې هم مېدان ته راودانګل. په حجرو سر شو. دَ خلقو دوه اعتراضه وو، وړومبے دا چې اخر ولې مو په تیار جنګ کښې دَ ازاد ودرېدو فېصله وکړه، دوېم دا چې صرف دَ درې کلو دَ مفاداتو دَ پاره مو ولې دَ ټولې صوبې مفاداتو پسې ډانګ راخستے دے؟ مونږ به ورته وې چې دَ ترقۍ مخالف نۀ یو صرف دَ سیکشن فور دَ غلط استعمال مخالفت کوو. دا زمونږ زمیندارو دَ پاره ناسور دے. خلقو ووې چې ټیك ده خو دې دَ پاره خو څو کاله مخکښې نه بېداري پکار وه اوس خو هر څوك خپلې پارټۍ سره تړلے ناست دے. څۀ رنګ به وعدې ماتوي؟ بس دوستانو



www.pukhto.net

چې به مې دا واورېدل لا به سره لمبه شول او اخر هغه شپه راغله چې مونږه شکست وخوړهٔ ـ ما خو خپل زړهٔ له په دې شعر تسلي ورکړه او کور کښې غلے کښېناستم چې؛

قېدونه،تکليفونه خو بس خبر دے په مرګ لاړ شي
مشکور اوسه سرتېزه له پېغوره ووتې

او دَ دوستانو خو مې دا خناس سر ته ختے وهٔ چې ګني مونږ سره په رزلتۀ کښې دوکه شوې ده چې په دې پوهه شول چې دا جګړه عبث ده نو راغلل او په ما ئې زړهٔ سپك کړهٔ ـ زهٔ دلته دا خبره هم واضحه کوم چې نهٔ زما سل بد نصيبي او نهٔ دا يوه خوش بختي چې ما ته دَ ژوند په هر موړ داسې دوستان په لاس راغلي دي چې زما ئې لکه دَ خوږ ورور عزت او لکه دَ خُوږ لاس حفاظت کړے دے ـ کېدے شي زما په شاعرۍ دا اعتراض هم وشي چې دَ دهٔ په شاعرۍ کښې له بې وفاو نه هډو ګيله نشته نو څنګه به وي ما بې وفا دوست لا تر اوسه لېدلے نهٔ دے نو؛

شکر دے توبې لا دروازې دَ غضب پورې دي
شکر چې جولۍ دَ خوږ دين شته کهٔ لارې سپورې دي
شکر چې شمار شوي يو دَ دود په طبيبانو کښې
شکر چې شپونکي ئې رانه جوړ کړل ښامارانو کښې





شکر چې جانان له خپله دره راشړلي وو
شکر چې ترې خلاص شو ګني غټ ازمېښت تړلي وو
شکر دَ ژوند سختو حکمتونه رابخښلي دي
شکر چې شکست وهٔ مونږ ترې سل چله زده کړي دي
شکر په څو چنده لا دَ ژوند واګې راپورې دي
شکر لا زلمي يُو لا مو څڼې زلفې تورې دي

اوس مشري ښه ده مونږ پخه پنګه ګنډلې ده
اوس مو دې شپانهٔ کړي دَ ژوند پوهه مو زده کړې ده
اوس په حُسن پوې يُو چې مو لونه ښائسته شوي دي
اوس تيرې ګنډے شو چې په نوع مو اخته شوي دي
اوس به جنج جوړېږو څکه پوې يُو تښتېدے نهٔ شو
اوس به اوچتېږو چې بس نور په ښکته تلے نهٔ شو

***



www.pukhto.net

## متضاد خويونه

زهٔ چې ژاړم بدرنګېږم، تهٔ چې ژاړې ښائسته کېږې
چې ويرېږمه ورکېږم، چې ويرېږې اوچتېږېږې
چې مغروره شمه سپک شم، چې مغروره شې درنېږې
غرق تباه شمه چې چپ شم، تهٔ چې چپ شې نو شتهٔ کېږې
په شوخۍ مې عزت ورک شي، په شوخۍ بې بها کېږې
زهٔ چې خاندم زړهٔ مې مړ شي، تهٔ چې خاندې ودانېږې
سپورے ما له په ژوند ګور دے، تهٔ په سپوري زرغونېږې
غلامي ما له پېغور دے، تهٔ په پټ کښې ښهٔ ښکارېږې

دَ رب ورکړه عجيبه ده، يو درياب کښې دوه رودونه
يو له نمر کښې عزت ورکړي، بل له سوېري کښې شرفونه
نر ماده سره يو ځاے شي، ترې نه جوړ کړي مزاجونه
ژوندون څهٔ دے اعتدال دے، زندګي مخصوص خويونه

يو چې دورمي دَ بل خوي له، کهٔ سړے وي ګوډاګے شي
بل چې خپل خويونه پرېږدي، پېغله مړه شي لاګے شي
او کهٔ دواړه يو فطرت شول، جوج ماجوج ترې پېدا کېږي
دَ حضرت وېنا رښتيا ده، دَ فتنې ورګے لوئېږي

***





## ماشوم توب

لا مې سترګې دي ګډېږي، لا يارۍ نه خبر نهٔ يم
دَ ربېار دَ منتونو، دَ زارۍ نه خبر نهٔ يم
لامې ژوند دَ څښې يار دے، ما غوټۍ سپړدو له بيايي
لا دَ وخت دَ سپېرې چتې، شېطانۍ نه خبر نهٔ يم
لا مې اوښکې باتورانې، ګله ضد مينې ځوانانې
لا غربت ته وايه ورک شه، لا نېستۍ نه خبر نهٔ يم

لا خو پاکه فرشته يم، بې حسابه بې کتابه
نهٔ حاجت مې شته مکېز ته، نهٔ مې ويره له عذابه

چې چورلک دے ګډا نهٔ ده، ولې پېر څښو له ورکړم
خامخا دَ ځوانۍ بار او، ازمېښتونه را په سر کړم

چې مې سترګې شي سوال ګرې، چې مې وخت کړي ګوتې ماتې
چې ژړا مې شي بې وسه، چې سلګۍ مې شي ميراتې

بيا به غټه تله واخلم، بيا به دروند دستار په سر کړم
اوس خو دينه روي مې واخله پښتو تا ته ننواتې

***



www.pukhto.net

## سیالي

زمونږ خاندان ډېر خور وور دے۔ پلار مې دَ پاکستان پېدا او باقي ورونه او خوېندې ئې دَ تایي لېنډ پېدا دي۔ کۀ دَ مور او پلار شهریت مې دَ امریکې دے نو باقي ورونه او بچي مې څۀ دَ استرېلیا او څۀ دَ کنېډې باشندګان دي او هم دغه رنګ مې نور خپل خپلوان هم په نورو ملکونو کښې پېدا او مېشته دي یعني زمونږ خاندان درې ډوله شوے دے۔ څوک سوچه پاکستانیان ، څوک نیمچه او څوک بېخي پردي ، هم دغه وجه ده چې کور نه مو دَ نظریو اچار جوړ شوے دے او څومره چې په خپلو کښې بحثونه کوو، دَ هر یو دا تمنا وي چې زما مور زمکه دې دَ ټولو نه زیاته ښائسته او سیاله وي۔

زمونږ ملک چې څلور واړه موسمونه لري، زمکو کښې ئې داسې مسلسله اترایي موجوده ده چې دَ ټول ملک نه ډېمونه او نهرونه جوړېدے شي۔ دَ شمال دَ یخو او دَ جنوب دَ ګرمو اوبو تر مینځ یوه داسې لاره جوړېدے شو چې دَ محصول امدني به مو دَ خرچې نه زیاته وي۔ په اخلاقي توګه کۀ ئې ګورې نو دَ یو داسې دین دعویٰ دار یو چې معاشرتي اساس ئې حکمت او اخلاقیات دي خو بیا هم مخ په زوال یو نو ضرور څۀ داسې نفسیاتي بیمارۍ شته چې ترقي یافته ملکونو ختمه کړې ده او په مونږه لګیا ده خو مونږه پرې پوهېږو نه او زما په خیال دا





بیماري دَ عزتِ نفس ختمېدل دي، زۀ چې دَ ترقي یافته ملکونو پالیسۍ ته ګورم نو ما ته داسې ښکاري لکه چې ټول نظام ئې داسې جوړ کړے دے چې مقصد ئې تش دَ عزت نفس بچ کېدل دي لکه تۀ به وایې چې غونډ دَ حضورصلی الله علیه وسلم تعلیم ئې ازبر کړے دے چې؛

چا ته سپك کتل، کنځل کول او بد نوم اخستل ګناه ده، دَ هر چا عزت، سر او مال محترم دي۔ غیبت، بهتان، فحش ګویي او چغلي بد خویونه دي، چې کوم څيز ځان له خوښوې هغه به بل ورور له هم خوښوې۔ مشري او افسري خدمت دے۔ دَ قوم اثاثې، مشوره او حقدار ته خپل حق رسول امانت دے۔ ظلم ، بزدلي، بې حسي، کاهلي او مایوسي ناروا ده۔ سوال، ویره او طمع منع ده۔ محنت او دَ وخت قدر لازم دے۔ په ماشومانو رحم، دَ همځلو عزت او دَ مشرانو احترام دَ اسلام خاصه ده۔ نفرت، بُغض، کینه او غصه دوزخي اعمال دي۔

دې هر څۀ ته چې ګورې داسې ښکاري چې حضورصلی الله علیه وسلم دَ عزت نفس کوم دفاعي کور جوړ کړے دے په هغې کښې مېشته خلق ترقي یافته او دَ هغې نه بهر وتي اقوام غېر ترقي یافته دي۔ لکه چې وایې؛



www.pukhto.net

په والله چې نهٔ پوهېږم، چې دننه انسان مات شي
چې خپل قدر له زړهٔ وځي، چې عزت عظمت ميرات شي
نو جذبه سړه ايره شي، کله اور شي سره لمبه شي
کله بل پورې خندا کړي، کله بل له مسخره شي
دا کوتتون دَ اعتدال دے، کهٔ کمتر کهٔ برتري ده
دغه غته ګمراهي ده، دغه لويه تباهي ده

قام بزدل نهٔ بهادر دے، بهادر امير پکار دے
قام خو بحر بهېدونکے، هنرمند وزير پکار دے
ادارې خو مور او پلار وي، مور او پلار چې ناسکه شي
ملك خو کور وي کور چې اور شي، خپل زړګے په ځان اخته شي
ازادي لرې حدونه، بې مهاره تګ مستي ده
دغه غته ګمراهي ده، دغه لويه تباهي ده

کهٔ دولت رشوت معيار کړو، په ناجانو کار ورانېږي
دَ هر کار چې خپل استاد وي، وطن هله ودانېږی
دا ناپوهه به هم غرق شي، کهٔ دَ تول تله سپېرهٔ شي
رب دَ هېڅا دښمن نهٔ دے، دَ نااهلو بخت کوټه شي
ملك چيندرو کوټنۍ نهٔ ده، دَ ملك تيګه بنيادي ده
دغه غته ګمراهي ده، دغه لويه تباهي ده





مرغۍ ځهٔ وي بچي بچ کړي، دَ ښامار سره جنګېږي
چرګه اوچه شي پنجره شي، چې بچي ئې ابادېږي
په باد نهٔ ده په اولاد ده، چې اولاد دَ چا کوټه شي
هغه جنج دې جنازه شي، چې ډولۍ پرې اپوټه شي
ځان سنبال کړه سرتېزيه، ستا په غاړه رہباري ده
دغه غته ګمراهي ده، دغه لويه تباهي ده

***



www.pukhto.net

## بزدلي ګناه ده

ظلم اژدها چې ده، ښهٔ اخلاق ښکلا چې ده
تهٔ تورې بلا له ځې، زهٔ غېږ دَ الله له ځم
زهٔ دَ جنت زېرے يم، تهٔ يې دوزخي تمبه
زهٔ دې ولې وتښتم، تهٔ له ژونده وتښته

ظلم کول ظلم دے، ظلم منل شرك دَ رب
تهٔ به ګناه ګار شې بس، زهٔ به سُور کافر شمه
زهٔ تاواني غرق ايمان،ستا تشه دَ سُر ګټه
زهٔ دې ولې وتښتم،تهٔ له ژونده وتښته

زهٔ دَ صداقت عزت، زهٔ دَ دين ايمان حرمت
تهٔ دَ ګندګۍ نخښه، تهٔ يې شېطاني ذلت
ستا تاوان تش ستا تاوان، زهٔ چې پرېوځم دين تروټه
زهٔ دې ولې وتښتم، تهٔ له ژونده وتښته

خاندي ملائك دَ رب، تلې په لاس ناستې دي
تا له دوزخي ماران، ما ته غېږې راستې دي
مېندو ووې اے نبی، خپل ګلالي وګټه
زهٔ دې ولې وتښتم، تهٔ له ژونده وتښته

***





## ژوندے بابا

دَ اجمل بابا دَ وفات په ورځ دَ هر څومره نظرياتي مخالفت باوجود ما داسې محسوسوله لکه چې دَ پښتونخوا ډېر لوے زيان وشهٔ۔ خو کال پس چې کله ما ته دَ بابا دَ کليزې دعوت نامه راغله نو ما داسې وګڼله چې بابا ژوندے دے او دَ هغهٔ ياد او افکار په مونږه اړه لري، بس بيا څهٔ وو، قلم مې راوخستهٔ، په خپل ژوند کښې دَ شاعرۍ په وساطت په وړومبي ځل سټېج ته وختم او دا يو څو شعرونه مې دَ بابا هغه سترګو ته نذرانه کړل کومې سترګې چې هغوي مونږ پښتنو دَ پاره کړې وې۔

هسې نه بابا ميرات شي هسې نه سوچ ئې پناه شي
دَ بابا دَ سترګو نم شئ چې ښېرازه پښتونخوا شي
پښتنو شاه زلمو پاڅئ سره ټك وهئ لاسونه
وطن هله وطن کېږي چې بابا پکښې پېدا شي



www.pukhto.net

مونږ وئيل چې لر او بر به سره يو ، دښمن به سوزي
مونږ خو داسې نۀ ګڼله چې زمونږ کور دې جليا شي
ښشنليانې دې بابا باندې اوس سرې لوپټې نۀ ږدي
هغه کس چې دَ الله شي دَ تمام مخلوق بابا شي
يو په لاس کمزورې واګې بل خوا اور بل خوا جنون دے
پښتونخوا الله دې مل شه ستا الله دې مسيحا شي
اختلاف زمونږ دَ ورونو دَ شپلونو اختلاف دے
چې په ګل دې اختلاف وي رب دې نۀ کړي چې رښتيا شي
ژبې کله ميراتېږي چې تخمونه ئې ژوندي وي
دَ خوشحال فکر به کر کړو بل اجمل به راپېدا شي

***





## دَ ماچين دَ ښاپېرو په نوم

زمونږ نيکانو به مونږ ته قيصه کوله چې دَ نن نه يو سل اويا کاله اګاهو په بره اباسين کښې دَ واورې غر پرېوتے وۀ او خلۀ ئې ورله داسې بنده کړې وه چې پوره شپږ مياشتې اباسين دَ ماشومانو دَ لوبو وۀ ، خلقو به بډې رابښکلې او پورې وتل به پرې، کشتئ په اوچه ولاړې وې، دَ اباسين دَ اوچېدو په وجه لنډے سيند داسې چړ شوے وۀ چې يوه زيمي شان کنده ترې نه جوړه شوې وه۔

بره په حادثاتي توګه جوړ شوے تالاب ډکېدو او کله چې وشلېدۀ نو دَ اباسين په بيلو کښې مېشته ډنګر، په کنارو لګيا دياړي مار او په غاړه اباد کلي ئې غونډ يوړل او چې دَ اباسين چپه دَ خېراباد غرونو ووهله نو ښي اړخ ته په لنډي سيند ورسمه شوه، دَ اټك دَ کشتو پُل ئې نوښار ته او دَ نوښار بوساړې ئې خېشکو ته ورسولې۔ دَ لنډي په دواړه غاړو اباد کلي کۀ دَ يوسفزيو وو او کۀ دَ خټکو، ټول ئې په مخه کړل۔ چپه خو په شاه تر پېبو لاړه او شپه په شپه واپس ببرته دَ خېراباد غرونو کښې ووته خو نن چې ئې ګورم نو دَ دې څو چاربېتو او ټپو نه بغېر ئې هېڅ اثر نۀ دے پاتې، لکه چې خلقو به په حجرو کښې دا چاربېته وئيله چې؛

بيا اباسين وهي موجونه
خېشکي مارۀ شول نوښاري غواړي خېرونه
بيا اباسين وهي موجونه



www.pukhto.net

يا دا ټپې چې؛

کاریګر مړ شول قرض خلاص شهٔ
ښـــکته لاهـــور کښې زرګران ژړا کوینه
لنډ یه زړهٔ دې دَ کټو دے
خونې دې ورانې کړې تالادې کړل فصلونه

دغه رنګ دا دَ سن 2010ء سېلاب به هم هېر شي بس څو ټپې او قیصې به پاتې شي، کوم پټې او کورونه چې وران شوي دي جوړ به شي خو چې کوم خویونه ئې راله ګنده او کوم کردار ئې راله مسخ کړهٔ په والله چې دَ هغې په سمېدو به کلونه لګي.

ما ته دَ دې سېلاب درې افته ښکارېدل؛ وړومبے خو له هغه درنګو نه دَ وبا خطره وه کومې درنګې چې سېلاب پرېښې وې، پاك رب خو هغه درنګو له دَ مچانو په نمونه او جسامت څهٔ داسې ځناور پېدا کړل چې شپه ورځ به لګیا وو چې درنګې ئې ختمې کړې نو په خپله هم ختم شول. دوېمه ویره دَ سېلاب دَ متاثرې علاقې دَ کوهیانو دَ اوبو خرابېدل وو خو پاك رب هغه هم په څهٔ معجزه دَ زهرژنه کېدو نه بچ کړې. درېمه ویره دَ امدادي تنظیمونو دَ غلط استعمال وه. پکار خو داسې وه چې حکومت دې په هر یو متاثره یونین کونسل





کښې دَ عدلیې په نګرانۍ کښې یو داسې مرکز جوړ کړے وے چې دَ ټولو محکومو نمائندګان پکښې موجود وے او ټول امداد دې دَ هغوي په وساطت لګېدهٔ نو زمونږ ابادکاري به هم دَ اصولو مطابق شوې وه ،زمونږ عزت نفس به هم نهٔ وهٔ مجروح شوے او نهٔ به مونږ دَ کاهلۍ او دَ بې حسۍ په نشه اموخته کېدو خو افسوس چې داسې ونهٔ شوه او زمونږ دا لړه شان متاثره علاقه په داسې ناسور ککړه شوه چې دَ پاکستان ټول وجود ترې متاثره شهٔ. مونږه دَ معاشي او معاشرتي هدف حاصلولو په ځاے دَ کاهلۍ په نشه اموخته خبرمار شو. زما نور هېڅ وس نهٔ وهٔ، صرف دا چې دَ ماچین دَ ښاپېرو په نوم مې ټول تنظیمونو ته دَ اوښکو په ډکو سترګو دا یو څو شعرونه ولیکل؛

سل رویه قرانه دَ ماچین دَ ښاپېرو په نوم
ګُټې کښې غلے کښېنې پېغلتوب دَ ودېدو په نوم
مونږ له زمونږ پېغلې لکه نور فانوس کښې بلې دي
لر ترې نه سالو نه کړئ دَ زړهٔ دَ سوزېدو په نوم
تُف په داسې ورکړه چې ضمیر په کنډاو واړوي



www.pukhto.net

تُف داسې نشه چې مونږه کړه دَ جوړېدو په نوم
وینې مې شه وطنه کۀ وینې نۀ شوې نو تباه به شې
ستا بچي غوټه شول په ښامار دَ مړېدو په نوم
مات زړونه رغېږي خو چې ماته حوصله نۀ وي
پېر کوي خوندونه په دریاب دَ ګډېدو په نوم

***





# زړۀ سترے انتظار

دَ نوي الفاظو خالق، دَ انساني خمبیر په جمله رموز پوۍ، دَ انساني فطرت دَ واګو نه باخبره، یو موړ پوهن او یو مجدد شاعر؛

زۀ دۀ ته په کلي والاژبه چېرمین ووایم کۀ دَ ښار دَ خلقو ناظم۔ دَ پښتنو دَ جرګو بابا ورته ووایم کۀ نه زمونږ دَ زلمي کول خوږ جي کاکا،په پېداېشي نوم سرتېز خان ئې یاد کړم کۀ نه په حاجي فضل ربي۔ دا هر څۀ په خپل ځاے، خو د ایو اعزاز ما ته ضرور حاصل دے چې زۀ دَ دۀ دېوال په دېوال ګاونډي او دَ دۀ په سپوري لوے شوے ادیب یم، ما به دَ وړوکوالي نه دَ دۀ شعرونه اورېدل، څۀ عجیبه شان سرور به مې محسوسولو۔ دَ ژوندو لفظونو ګډاګانې او مستۍ، تا به وې جوړ داسې دنیا ته راغلے یم چې دا ټول ټکي او کېفیات ژوندي دي او یو بل سره نښتې کوي ۔ زۀ منم چې هر شاعر په خپل ځاے دَ ستائینې وړ دے خو دَ دۀ دَ ټکیو جوړ ښت، تشبهیات او استعارات به ما ته داسې ښکارېدل چې دا فن نه بلکې دَ شاعرۍ کرامات دي نو ځکه چې کله ما ته ووئیلے شو چې زۀ دې دَ دوي شاعرۍ له کتابي شکل ورکړم نو ډېر زیات



www.pukhto.net

خوشحاله شوم خو چې مسوده مې وکته نو په والله زړهٔ مې یو درز وکړهٔ، هغه دَ بناوټ نه پاکه ساکه بلکل فطري او دَ زړهٔ دَ کومې نه راوتې شاعري خو داسې ورکه وه لکه چې هډو وه نه۔
دَ مثال په توګه؛

1

مینې کړه کاسیره دَ وتو نهٔ وه
اوښکه پُښتنه دَ بهېدو نهٔ وه
زړهٔ ګڼې ګوډۍ ورسره لوبې کړې
دا ساده سلګۍ دَ ودېدو نهٔ وه

2

غزله میراث خوره ستا نازونه دي او زهٔ یم
دنیا سپېرې خبرې سپور ټکونه دي او زهٔ یم
زړګے مرور تښتي لا وادهٔ کولے نهٔ شم
ټکرې دَ تقدیر سره جنګونه دي او زهٔ یم

3

ما دَ خپل زخمونو تاو په تور دَ جانان ویستهٔ
څه دَ ځان په مرګ مې دَ عمرونو ارمان ویستهٔ
اوس دې خوښۍ له ازارونو غرې خلاصه کړې





زهٔ خو لاړ باچا شوم ما دَ اوښکو تاوان ویستهٔ

4

څوک چا دَ ډولۍ په تور وژلي ده
څوک خورو زلفانو له شال نهٔ ګوري
لاړه په ژړا له تهمت خلاصه شوه
اوس به لېونۍ په دېوال نهٔ ګوري

5

وخت او بخت دې نهٔ چېړي، دا زخمونه ګران په ما
راج دَ لېونتوب ښهٔ دے، سُر سنګیت دیوان په ما
عشق نهٔ دے نو نور څهٔ دي، زړهٔ پاګل په سرو لمبو
غم زما په تورو غرو، غم دَ خوږ جانان په ما

6

سرتېز وایي مسیحا یم
خپل خویونه دې زیبا کړې
ګڼي سُر دَ چا کنډر کښېږي
رب به بل سرتېز پېدا کړي

ما ترې نه تپوس وکړهٔ چې جي کا، دغه په جر مسته ګډونکې شاعري دې ولې پټه کړه، هغهٔ ووې چې خپل تخلیق خو لکه دَ اولاد وي، ما ته پکښې هېڅ فرق نهٔ ښکاري خو دا کتاب زما



www.pukhto.net

يو اهم مضمون له ځلا ورکوونکے تعارف دے نو ما دَ هغه مضمون مطابق شاعري راغونډه کړې ده ـ ما ورته ووې چې ډېره ښه ده خو ستا دَ روماني شاعرۍ يوه نخښه ما سره ليك پرته ده، زهٔ به ئې پکښې ضرور شاملوم، کهٔ ګناه وي زما په سر، کهٔ شاباشے وي نو ستا دَ سر تاج دې شي۔

په دې نظم کښې دَ يوې جينۍ په وساطت دَ ټولو پېغلو دَ جذباتو حقيقي نمائندګي او دَ هغوي دَ ارمانونو ربښتينې عکاسي شوې ده چې کومه پېغله هم دا نظم لولي، دَ خپل زړهٔ جذبات او احساسات به دَ يو ژوندي کردار په شان محسوسوي لکه چې دغه جينۍ هغه په خپله ده؛

ستا دَ سترګو خمارونه، ستا ښائسته رنګين نازونه
ستا درنه شمله کښې پټ دي، دَ چا پت دَ چا سترونه
دَ چا برغې برغې اوښکې، انغرو کښې تعويزونه
دَ چا نښتي دَ همځولو، په ټوټو بنګړو فالونه
کبرژنه ستا دَ پاره، سل دَ سُور سالو مېرمنې
نيمه شپه کړي په سر توره، دَ خورو زلفو غوښتنې
ستا په سر لاس دَ الله شه، ستا دَ سر سېورے په ما شه





اے زما زړګيه څهٔ شوې، يه زړګيه راشه راشه

زما ژوند خاورې ايرې شه، کهٔ شمله دې پرې جګېږي
پښتنې ډېوې مې مړې شه، کهٔ دې نوم پرې ښائسته کېږي
تهٔ مې پت تهٔ مې پښتو يې، ستا نظر زما نظر دے
تهٔ مې فخر دَ همځولو، ستا نامه زما څادر دے
ستا نامه زما پښتو ده، جونه نهٔ وي کبرژنې
څهٔ حاجت روغې رېبار له، چې وي څوك په چا مئينې
پېغلتوب بې سېوري ګران دے، تن دې ګل سېورے زما شه
اے زما زړګيه څهٔ شوې، يه زړګيه راشه راشه

اے سرتېزه حُسن څهٔ دے، لړ شان وار دے چې تېرېږي
اے سرتېزه ځواني څهٔ ده، سيالي ګره سيالي کېږي
اے سرتېزه مينه څهٔ ده، دَ پاك رب نه يار غوښتل دي
اے سرتېزه وفا څهٔ ده، دَ يار پت عزت ساتل دي
ځکه ناسته درنه کور کښې، ځکه غېږ مې وا نيولې
ځکه سوال کړم دَ الله نه، چې پخې مې کړي دُرشلې
وخته وپارېږه راشه، سپينې څښې دَ اشنا شه



www.pukhto.net

اے زما زړګیه څۀ شوې، یه زړګیه راشه راشه

***

## یو سوچ

زما دعویٰ دہ چې پښتو یو ژوندے ائین دے ۔ هم دغه وجه ده چې رب تعالیٰ دَ همه اقوامو دَ خویونو ښائسته برخې راغونډې کړې دي او زمونږ دَ پښتنو ائین (پښتو) ئې ترې نه جوړه کړې ده ځکه خو چې مونږ پښتانۀ کله دَ خویونو په رڼا کښې دَ خپل نسل تجزیه کوو نو کله راته ځان یهود، کله اریا، کله یونانیان، کله جرمن او کله منګول ترکیان ښکاري خو داسې بلکل هم نۀ ده ۔ مونږه له ازله پښتانۀ وو او تر ابده به پښتانۀ یو او چې څومره قیامت رانزدې کیږي نو زمونږ کردار به لا نور ځلنده کیږي ۔

دَ ادوارو په تیارو کښې څو نیازبینې اداګانې
رسولان دَ اسمان ستورې کتابونه رڼاګانې
رڼاګانې دستورونه یو دستور ئې ښۀ زیبا کړۀ
یو ضمیر ئې څوکیدار کړۀ یو ټولګے ئې راپیدا کړۀ
یو حیا مسته شیرینه دَ جوړ ښت احساس ئې ورکړۀ
ښۀ خصلت ئې دروند څادر کړۀ یو ټولګي ته ئې په سر کړۀ
یو ادا ئې کړه ترې سازه خپل تخلیق باندې مئین شۀ





معشوقه ئې پت پښتو کړه او په خپله غټ پښتون شۀ
ننواتې په تورات کښې کۀ رواج دَ پښتنو دے
سرودونه دَ زبور دي کۀ رباب مو دَ حجرو دے
مېلمستیا دَ ابراهیم ده ترې ډېوډۍ او حجره جوړه
هره پېغله چې شي پت کښې دَ داودؑ چنغله جوړه
دے پوهېږي چې سور اور چې په فانوس کښې شي رڼا شي
ځکه مستو ښائسته پېغلو ته پړوني راپېدا شي
دۀ ته پوهه رب ورکړې نو نفرت ئې برملا شي
دغه اور چې زړۀ کښې پټ شي نو نفاق ترې نه پېدا شي
دے توحید پېژني ، سر ئې شي قلم خو راټیټ نۀ شي
دے په څټ باندې شرمېږي دَ دۀ واګې په څټ نۀ شي
دے په دین دَ لوړ احساس دے، وجود نۀ مني پاګل دے
ګني څۀ ډولۍ متیزه کار ئې یو دے ژوند ئې خپل دے
دے دَ هر ادا څښتن دے خو څښتن دَ دۀ بدله ده
کۀ بدل دے کۀ احسان دے کۀ څۀ پور دے کۀ قرضه ده
په سوونو دامو ښلي لا ئې رنګ خصلت زیبا دے
دا ثبوت دے معشوقه ده پاك الله په دوي شېدا دے



www.pukhto.net

تاریخ وایي یهودیان دي له توراته سند کېږي
تاریخ وایي یونانیان دي له خویونو معلومېږي
تاریخ وایي له ایرن دي رب دَ خداے په نوم یادېږي
تاریخ وایي دوي اریا دي فاتحان دي راخورېږي
تاریخ وایي تُرك منګول دي چې دَ خان په نوم یادېږي
تاریخ وایي نۀ جرمن دي له جوسو نه معلومېږي
خو زۀ وایم داسې نۀ ده سل ناارمې به پېښېږي
دا لښکر دَ رسولاتو غټ ازمېښت له تیارېږي
یو فتنه به دَ دجال وي یو عیسیٰؑ به راکوزېږي
یو مهدي یو به لښکر وي سر لښکر به دے جوړېږي

***





## بېن المذاهب هم اهنګي

کۀ یو منظر بې شمار داسې کسانو له ښودلے شي چې مذهبونه، نسلونه، ملکونه، رنګونه او ژبې ئې جدا جدا وي خو بیا هم دَ ظلم او دَ سخا والي نه په کراهت او دَ ښۀ والي او ښائست په محبت به ټول متفق وي، ولې چې دَ ټول انسانیت خالق دَ اخلاقو معیار او فطرت یو دے. پاك رب چې دَ معاملاتو چلولو دَ پاره وخت په وخت کوم احکام رالېږلي وو دَ هغې نه مذهبونه جوړ شول. اګر چې دَ ټولو مذهبونو بېنادي عقاېد یعنې دَ خالق متعلق تصور دَ سز جزا میزان او دَ کائناتو دَ چلولو نظام کښې څۀ خاص تضاد نشته خو دَ یو بل دَ نۀ احترام په وجه چې کومه بلا دَ ټولو په غاړه شوې ده هغه دَ لادینیت وبا ده چې بې شماره خلق ئې تباه کړل او لانوره هم زیاتېږي.
زۀ په دې نظم کښې دَ هغه وبا دَ ختیمدو دَ پاره دَ اسلام یو اصول پېش کوم او ټولو مذهبونو له دعوت ورکوم چې راځئ چې اول خپله کشتۍ بچ کړو چې دَ لادینیت خونخوارې پنجې ختمې شي نو بیا دې خبر یو بل سره دَ احترام په دا ېره کښې مخالفت کوو.
دعا څۀ دا رنګې تعلیم ورکوي ؛

امنت بالله و ملاېکته و کتبه ورسوله والیوم الاخر و القدر خیره و شره من الله تعالیٰ والبعث بعدالموت؛



www.pukhto.net

رب دَ سوچ شعور نه بره، په رب نهٔ کېږي بحثونه
دا چې مونږه ئې رب بُولو، دا ئې نخښې صفتونه

ملائك دَ رب قدرت دے، کائنات لري ردمونه
کهٔ وجود دے خو له نُور دے، کهٔ عمل دے طاقتونه

کتابونه قوانین دي، دَ هر وخت خپل دستورونه
عقیده او مقصد یو دے، معاملاتو کښې فکرونه

انبیا دَ رب استازي، څوك وي جوړ شي مثالونه
ګني لارو کښې کړکېچ دے، دَ شېطان زده دي داوونه

دین دَ رب ښودلې لاره، دَ لار تګ له اصولونه
دَ رب هر حکم مذهب دے، هر ثمر ئې تقدیرونه

څهٔ کړي هغه به ریبي، دا جزا دا عذابونه
اصل ژوند وي پس له مرګه، یا شي اور یا جنتونه





رد ئې څهٔ دے کافرتوب دے، دوزخونه ترې جوړېږي
شك ئې څهٔ دے لېونتوب دے، لادینې ترې نه خورېږي

فرق ئې څهٔ دے ساده توب دے، جوړ ودان کور پرې ورانېږي
توهین څهٔ بې وقوف توب دے، چې په شرم څوك پوهېږي

ټول راځئ چې سره یو شو، دَ کشتۍ وجود اول دے
پس له هغه به کتے شي، څوك پردے دے څوك مو خپل دے

کهٔ کشتۍ رانه تباه شوه، شي تقدیر به مو اورونه
پاك الله خو دے بې نیازه، په رب نهٔ کېږي بحثونه

***



www.pukhto.net

# عذر

## دَ پېښور دَ سکول دَ سانحې په تاثر کښې

ځنې تندې زورورې زړونه خورې خو راج ئې نشته
ځنې اوښکې بختورې ناوې وي کهٔ داج ئې نشته

ځنې مینې وي بې توله کچ او شمار او جاج ئې نشته
ځنې جنګ وي بې له ډوله تاوان وي خراج ئې نشته

ځنې غم مبارکي وي خو افسوس رواج ئې نشته
شهادت خو بادشاهي وي خو لیدونکے تاج ئې نشته

شهادت خو برکت وي برکت کله ختمېږي
چې یو ګل زمکه کښې ښخ شي ګلزارونه ترې جوړېږي
بس عظمیه ګناه دا ده تخلیقونه چې ورانېږي
مړهٔ بچې مو مبارک شئ وسیلې ترې نه جوړېږي





# رېبار

دَ کتاب نوم رېبار او کار ئې رېباري ده چې دَ خپله کوره راورك شوے ماشوم (انسان) بیا خپل کور له بوځي. شاعر دَ انسان په حېث دَ خپل خوږ خالق نه څو نیازبینې تمناګانې کوي چې مونږه په خصوصي رحم دَ خپل نفس دَ دعویٰ ګیرو پنجو نه خلاص کړه ولې چې تا کوم محافظان دَ ضمیر او عقل په شکل رالېږلي وو هغوي دَ تن دننه دا جګړه بائیللې ده او چې کوم کتابونه او رسولان دې دَ قوانینو په شکل رالېږلي وو زمونږ نا اهله لاس دَ هغوي تر لمنې ونهٔ رسېدهٔ.

مونږ له ځایه باچایان یُو، په جنت کښې زېږېدلي
زمونږ یاد دي لا تر اوسه، رنځ او مرګ رټلي شوي
وخت او بخت له ویرې پټ وو، ځواني ډانګ په لاس ولاړه
زمونږ یاده سر لوړي ده، او دَ حورو هسکه غاړه
غریبي خوار خُلې تنده، اوږے سوچ ړاندهٔ فکرونه
زمونږ یاد دي ګُټ کښې ناست وو، دَ اعمالو عذابونه
چې دوکه مستې مستۍ کړو، کهٔ دې بې خولې موندنې
خپل جلب ئې را په لاس کړهٔ، وې ئې تهٔ زده او ستا لومې
څهٔ وړه شان هېره وشوه، مونږ ئې وویستو له کوره



www.pukhto.net

خو نه غتې احساس مو بائیلو،و په مونږ شوه ځکه نسکوره
کۀ نه رب له ملائکو، څۀ دا رنګې درخواست ورکړۀ
بې کړاوه موندل زهر، غتې ازمېښت ئې راپه سر کړۀ
نۀ شي نۀ شي زما ربه، خپل تخليق سره تولونه
مينه تله دړې نه زده، دَ عشق نۀ زده حسابونه
ستا عظمت نشې نشې کړم، شنو کاسو پسې به ګرځم
ستا جنت په حُسن پوې کړم، سپينو خلو پسې به ګرځم
خود وجود کښې چې مستي ده، ځان به ګل ځان به کجل کړم
دَ جنت دَ مانړو تنده، به په شتو بورجلو سل کړم
ما ته ښايي چې نخرې کړم، زما غتې جلب په غاړه
دَ نيازبين پرون دليل دے، زما کړۀ او عادت دواړه
اے رېباره زما رب دے، شم به غرق کۀ خفه کېږي
په نيازبين لاسو کښېوتي، ګرېوانونه خو به شلېږي
چې ورك شوي پرې شتۀ کېږي، ما له هغه لار دې راکړي
بلاګانې دې اودې کړي، ماله لاره دې صفا کړي
دَ شعور لار ئې راکړې وه، سپېرۀ حسد تباه کړه
دَ الفت لاره ښائسته وه، خو هوس ړوندا رسوا کړه
دَ دين لاره وه عظيمه، خو چې لارې لېونۍ شي
تصوف کړکۍ کړې بندې، مسلکونه په سيالۍ شي
رب دَ کوم شرف تپوس کړي، چې ئې زړۀ جلب نيولے
کوم يو عقل راته ستايي، چې نازونو دوکه کړے





کوم ائين ئې راته شال کړه، لکه پېغلې چې نخرې کړي
چې ځواني ورپسې بائيلې، هله لرې دروازې کړي
کوم ضمير ئې ځوکيدار کړه، چې ئې نفس سپېرۀ دوکه کړي
خپل اودۀ لالا ئې خوښ وي، جينکۍ چې يارانه کړي
کوم احساس په مونږه ژاړي، چې په غم ويرې اوبۀ شو
په ميثاق تړلے روح مو، دَ تن غېږه کښې اودۀ شو
کوم نيازبين محمد[ص] ستايي، مونږ ئې قول ذرې ذرې کړۀ
زمونږ دين نه مذهب جوړ شه، مونږ ائين ټکړې ټکړې کړۀ
مينه رب کړه زوروره، دَ شاعر ژبه ښاغلې
اے رېباره وشوه ورشه، ورته وايه ربه ولې
چې ښائست سرور دې ورکړۀ، په خپل ځان خوبه نازېږي
مور جنت کښې تله چرته، چې په تول شوه حېرانېږي
تۀ دَ غتې جلال مالك يې، فخر تا سره ښائېږي
تخليق هغه قدرمن وي، چې خالق پکښې ښکارېږي

***

# غزل

زۀ نۀ پوهېږم چې شاعري څنګه کېږي، زما ذاتي تجربه په دې لړ کښې څۀ عجيبه ده ـ کله مې زړۀ ډېر څۀ غواړي خو يو شعر هم نۀ جوړېږي او کله چې څۀ شروع کړم دَ ختمېدو نوم نۀ اخلي۔ يوه لويه قصيده ترې نه جوړه شي او بيا وروستو چې ئې ګورم حېران پرېشان ورته ناست يم چې څۀ ورسره وکړم۔

هر څو کۀ ما خپلې غزلې څۀ خو په اوچ زور لنډې کړې چې کتاب ترې نه جوړ شي او کومې چې ښېخې دَ لنډېدو نۀ وې نو دغه رنګ مې پرېښوې، چې وګورم لوستونکي څۀ وايي۔ کۀ خوښې ئې شوې نو نورې به هم شائع کړم ګني ما په خپل وس نۀ دي جوړې کړي۔ په خپله جوړې شوي دي او تر قيامته دې لکه دَ ګناه ګارو پېريانو په کوزړۍ کښې بندې پرتې وي زما پرې څۀ؟





## غزل

ډېرې لويې سلسلې دي، ستا لمن ستا په ګرېوان کښې
هسې نه دَ ځان مجرم شې کوتاهي مۀ کړه خپل شان کښې
پيره خوب وينم په خوب کښې، ځانګه وسوزېده مړه شوه
زړۀ کړه صبر سرتېزيه، جوړ جوړېږي په اسمان کښې
پيره خوب وينم په خوب کښې، تکه توره مېښه زانې
صدقه ورکړه سرتېزه، بلا ښايي په پېزاون کښې
پيره خوب وينم په خوب کښې، سخا اوبۀ او شاړې کندې
چې ضمير دې رضا نۀ وي، روح به تل وي په نيران کښې
پيره خوب وينم په خوب کښې، سرۀ اوښان خړې قچرې
دا خو زېرے دے سرتېزه، شومتيا نشته په رحمان کښې
شپه وه ذکر تهجد وۀ، شول له هسکه اوازونه
پام سرتېزه دوکه نۀ شې، ډېر مکرونه وي شېطان کښې
ټول واړۀ په وراني سر وو، پلار مې ما ته تندے بوټ کړۀ
ښۀ شوه فرق درښکاره شه،ٔپه رحيم کښې په رحمان کښې
راشئ دې له کلے ورکړئ، وايي زۀ په تا مئينه
ستا په اوښکو دې لعنت شي، لاهډونه مې نيران کښې
زۀ دې وباسم تۀ بيا هم، دغه سخا کيچړ له دانګې
عقل زړۀ ته ووې سم شه، نور دے سود کښې يم نۀ زيان کښې

***

## غزل

ښه نو لېونۍ لوپټه ونغښته روانه شوه
ما وئيل چې ولې شپه په شتو زلفو پښېمانه شوه

راشه لا څۀ بله نخره واوره رب به ومنې
ما باندې يار سوزي په ما څانګه مهربانه شوه

نن به سره کښېنو دَ خپل ښو مقدار به وتلو
زۀ ئې کوم باچا کړم شاعري کۀ سرګردانه شوه

وشوه ما خپل سر ورته بخښلے ما دې وښيي
ښکلې دَ ځوانۍ په جوش راغلې بې پېزوانه شوه

وې وئيل زړګي ته ورك شې نورې ليندې جوړې کړه
سترګې دې ړندې شوې سره کوکۍ دې پرېشانه شوه





زۀ او زما پوهه دَ يار سترګې او سرور دَ عشق
هسې کۀ ئې پلې نو ښائسته لانجه روانه شوه

ما ترې صدقه کړه ربه سر عزت مې دوړه ترې
داسې غږ پرې ومۀ شه چې سپکه بې تاوانه شوه

زۀ به پرې سورة دَ لهب چُف کړم ځان به وباسم
ماله چل راځي سرتېزه ما سره کۀ ورانه شوه

***

غزل

هسې نه دا دنګې څوکې، دَ زړګي تېزندې نۀ شي
زۀ مارغۀ یم الوتونکے، په ما پوېٔ لېونې نۀ شي

زۀ دَ روح پېزواني اس یم، دَ وجود مېرمن ته وایه
چې په تورو غرو وربېږي، وروره زګ شي ګلې نۀ شي

خپل مېلمه خپل هم دیري نه، دَ خپل کور ستر مات نۀ کړې
شته دے رزق کښې اثر خو، شهوت نشت په ډوډې نۀ شي

سر او زړۀ کۀ دې پردے شو، خبر دې نوم او عزت راوړي
پوخ زنځیر ځان کښې پېدا کړه، چې دې خېټه پردې نۀ شي

څوك چې څۀ راوړي ستا کور ته، پرې سل وارې فکر وکړه
هسې نه سبا پښېمان یې، بې غرضه ډالې نۀ شي





زۀ خو برې شوم سرتېزه، راته وې ئې څه ورکېږه
ستا ګټلي ازارونه ستا، دَ پوزې تتکې نۀ شي

اوس دَ چا نه پټ شم ښکل کړم، خپلې کچنې ګوتې دواړه
اوس دَ سرې ډولې خاوند شه، ځوانې بې له سیالې نۀ شي

زړۀ باچا وي باچا نۀ زده، منتونه درخواستونه
زما عقله لېونیه، یارانه په زارې نۀ شي

***

## غزل

چې جذبات زړهٔ کښې تاڼه کړي، نو په ځان باندې لګيا شي
مينه وسپړه سرتېزه، چې کوځې در کښې پيدا شي

ماحول سپورے دَ ذهنونو، ستا خيرن خيچن کارونه
کينه بُغض حسد، چرته، چې دَ زړهٔ غولے صفا شي

هر يو پړانګ لره خپل ډانګ دے، په هر مورړ ډانګونه جوړ کړه
ژوندون لار دَ زړهٔ ابستلې، يو ځان څهٔ کړه کهٔ بلا شي

تندے روڼ،ځيګر روښان کړه، چې دَ غتې تېر مالك شي
بوټ وربوز په تنګ تېر کښې، اوبهٔ لرې په غړ مبا شي

تهٔ دَ وخت په شان چال زده کړه، بې پروا تګ له اطرافو
چې وي نيت او لاره نېغه، بې منته سبا راشي

اوس ځواني ده، پېغلتوب دے، وخت دې ډانګ په لاس راخستے
بيا به وروستو کتل ګران وي، بيا پرې څهٔ کهٔ غېږې وا شي





سرُ داني دي وخته ژرنده، لاړې ختمې شي اوړېږي
ښکلې پېغلې زرزرينې، دَ ژوندون اور کښې جليا شي

رب په تول عفوه پوهېږي، په ما دومره ظلم مهٔ کړه
هسې نه دا ستا ښائست وي، ستا ازمېښت تا ته بلا شي

سُود دَ دوو افرادو مينځ کښې، بې خولې ويرې دنده ده
خو تهٔ مهٔ وايه سرتېزه، سل فتنې به راپېدا شي

مونږ له شپول چمن پکار دے، چې کړو خپله ادې سياله
جنګ دَ رنګ، دَ نسل نهٔ دے، څوك بابا دې راپېدا شي
***

## غزل

تا پرې څۀ راوړل زړګيه، اداګانې خرڅېدلې
ستا دَ غاړې تېزندۍ شه، ستا اوږدې غزلې

اے شهيد دَ بالاکوټه، خپل راوستي غازيان شمار کړه
کړه مار به غازي کوټ وے، په پښتو کۀ پوهېدلې

له سيکانو ويره نۀ وه، ويره ستا نه وه حضرته
ګني ځومره سپينې تورې، په شېدو کښې پړقېدلې

دا دې بيا لوټ شۀ بيا اور دَ کړمار په سر مو بل کړۀ
ټول عالم به وارثان وو، کۀ دوکې ئې هضمولې

تش لَوړ او پوهه نۀ ده، چالاکي دَ قلم غواړي
پښتنو تاريخ مو غرق دے، نۀ مو دود شته نۀ درشلې

کۀ غوري، غلجي،لوديان وو، کۀ سوري کۀ روهيله وو
زمونږ مور ژبه په هند کښې، مونږه کومه نيازولې





ستر څۀ دے مخ پټول دي، کۀ نه شپول دَ رواجونو
هسکې هغه لوپټې وې، چې جنډې ترې جوړېدلې

دا ښائسته رنګين شعرونه، مور پښتو مې پرې سينګار کړه
ګني ځومره لوړې ژبې، وازې غېږې ژړېدلې

***

## غزل

زۀ ئې غم اشنا ئې ناز کړۀ، وخت شمکوره تول کوونکے
زړۀ په ناز ناز په زر لاړ شي، هر يو څيز دے خرڅېدونکے

خبرې کړي لاس په ګرېوان دي، ما سره زما غزلې
خپل بچي دَ بل په نوم کړې، غرق شه ستا شان نامنونکے

چې مې سېورے، مېوه لاړه، اوس څوك څنګ نۀ مې ملا تړ شته
په نصيب چې مې ذلت وۀ، زړۀ هم لاړۀ ويرېدونکے

دا تنکۍ تنکۍ غزلې، ستا دَ در په ادب څۀ پوې
ستا دَ شان قدر ئې څۀ زده، سپېرۀ ژبه ژړېدونکے

زۀ خپل يار زۀ خپل رهبار له، په سر برغ لاسونه نۀ ږدم
مړ خو هسې يم بلا شه، څۀ به کړي له ما نه تلونکے

پاك الله قرآن ته ووې، جوړ او تول ئې مينځ کښې وکړه
چې آهونه لېوني دي، کۀ سرتېز په زړۀ خوېدونکے





دَ خوړې دښمن ته ګوره، دَ ويشتو خويونه واخلي
عشقه وخت سپېرۀ بندي کړه، ګني سُر دے سړېدونکے

نور ئې شمار په لېونو کړه، دنياګۍ سپېرې ناترسې
نور قابل دَ رواج نۀ دے، خپل زړګي ته ودېدونکے

نوم،دولت،عزت او مينه، کړي په خپلو کښې بحثونه
سرتېزے خو لاړۀ غرق شو، چا ته کښېنو څوك راتلونکے

پاکه ساکه لار دَ ژوند وه، دَ قرآن جولۍ نيول وو
زۀ ئې په کومو کندو سر کړم، زړۀ ړوندا په څۀ پوهېدونکے

سرتېز هسې لېونے دے، رب ئې شته او ژوند ته ژاړي
کوم تاوان بلا خوړلے، دَ رب غېږ کښې پټېدونکے

***

## غزل

زړهٔ دَ کومې کوځې سپے شوې چې په غاړه دې مېرې شوې
هغه در به دَ دلبر وي کهٔ په سپوري کښېناستې شوې

زهٔ په جار وايم کامل وم خو دَ بد قسمت له نوله
م،ی،ز، په ما مئينې بلاګانې راپسې شوې

حق چې حق وي حق ته رسي يو اُمي چاپېره غنې
دَ تهذيب ګرېوان شهٔ څيرے، دَ قانون ماتې ډنډې شوې

هر يو څيز په خپل ځاے ښايي اوښکې څهٔ په ځاے دَ وينو
کوم دے ناز ئې راتر غېږ کړه په ژړا مې سترګې سرې شوې

ما په پاڼو دَ تاريخ کښې په سونو صدئ لوستې
غېرتي کهٔ غېرت يوړه بې غېرته له څهٔ ښې شوې

يويشت کاله هېڅ ژوند نهٔ دے،اُف جانانه ستا غمونه
لاړه لاړه ملا مې تېته، لاړې سترګې مې ړندې شوې





دا به ليك وهٔ له ازله چې به دا کندے ويجاړ شي
ستا ډولۍ چې ترې نه لاړه لاړې څهٔ شاړې کوڅې شوې

پوخ بنياده ظلم نهٔ وهٔ خو ستا اوښکې بې اثره
په ريا کهٔ سپورے نهٔ وې تر درباره رسېدې شوې

ډېر ښائسته جواب ئې راکړهٔ وئيل تېر او کور مې دروند دے
ستا نه خوږ به ما ته څوك وهٔ کهٔ په سر مې غوړېدې شوې

خونه وينه دَ ورور غواړي دَ پلار دروند پټکے سپېزل دي
کهٔ تش دود وهٔ اوس به ستا وم کهٔ په اوښکو نړېدې شوې

***

## غزل

علمونو لېونتیارو خو څهرو باندې دوکه کړو
راځئ چې بیا سپېرۀ زړګي ته هر څۀ حواله کړو

دا ځکه چې مونږ پېژنو چې زلفې خزانې دي
وربل دَ پېغلتوب ورله دَ پلار په کور تالا کړو

دوه لارې دي کاسیرې چې پردې ترې نه ماتېږي
شهوته تا به نت کړو ترټرې تا به جندره کړو

یو زۀ زما زړګے دے، دَ ژوند تول دے او جګړې
اے عقله شدت ناکه دا په کوم نول دې اخته کړو

نیازبینې دعاګانې دعویٰ ګیر اړك اهونه
سرتوره لېونې به لېونو کره دېره کړو

قرآن وایي بالا دي دَ مظلوم زړګي آهونه
چې خپل سوي شعرونه کبرژنې ته جرګه کړو

***





## غزل

غزل لا مرور شوے، زدنې لا بدې راښکلي
لکه رزق ګټل ګناه ده، لکه پرۀ دي په ما کلي

تۀ دې خپله مینه واخله، زۀ به خپل زړۀ دلاسه کړم
دنیاګۍ ده غلطۍ کېږي، نۀ څۀ تلي نۀ راغلي

تن سندان، عقل جانان کړه، تندے روڼ، زړګے جلب کښې
غریبي نۀ ده بلا ده، ډېر عالم ئې پرځولي

په محنت په عقل نۀ ده، چې دَ زړۀ کنډال دے روغ وي
ځي دَ جونو غېږ ته دانګي، چې منګي وي تنګېدلي

راشه خپلې لېونۍ له، په اجل څټلي یاره
چې پرې ستا غاړه پانسي وه، هغه زلفې ئې سېزلي

دَ قامونو ائینه یې، اے سرتېزه تګ په خیال کړه
هم ختك هم یوسفزے یې، ستا نیکانه ده ښاغلي

***

غزل

دَ یار سترګې دَ پړانګ ژبه، سرور یو دے وحشت یو دے
وینه وخوري وجود پرېږدي، دَ خونخوارو خصلت یو دے

مړې،اودې،زرقې،خمارې، خندنۍ، ملالې سترګې
خو نشې جدا جدا دي، غوښتل مینه او ست یو دے

د سپېرې دَ تندي کرښې، دا نیازبین کاسیر شعرونه
ما دَ سپینو خلو دلال کړي، دَ خوار خولو عادت یو دے

کله وخاندي له ورایه، کله مخ په پَلو پټ کړي
حُسن یو شانې دستور کړي، دَ پې مخو محلت یو دے

جنت ویره غېرېه ناست دے، ورك بچي له ربه غواړي
دهر مور مینه ړنده وي، دَ هر غېرې فطرت یو دے

په تا وبه کړي هم تاته، به پېغور کړي تا به سېزي
زما زړهٔ دَ یار نازونه، په سپېرو کښې علت یو دے

***





غزل

پوهې دلالتې دي عقلونه خزانې
تن دَ رب ډالۍ ده پکښې سل زره خانې

غېرت،کشش،نازونه او نیازبینه سلیقه
ښائست لري په خپل وجود څلور ګُټه تانې

دَ ټولو نه ښائسته عادت دَ نفس واګې نیول
دَ ټولو نه موذي مرض خپل ځان له بهانې

حُسن پرده پوخ دے زړهٔ ترلے شونډې غواړي
په چینګو وازو خلو نهٔ شي دوستۍ او یارانې

تن سخت کړه ژبه نرمه عقل تېز کړه تند ے روڼ
پېسه کاسیره غواړي په بټونو کښې دانې

تهٔ واخله اختیار کښې نفس نه ژبه او شهوت
چې در کړم ضمانت کښې پېغمبر دَ زمانې

***

غزل

يو سر وي صدقه شي شل شپلونه ترې نه جوړ شي
يو ژوند سوې ايره شي خو نسلونه ترې نه جوړ شي

سل ترچې ائينې مې کړې ړندې نو تهٔ ښکاره شوې
سل تندې چې سروخوري ستا خالونه ترې نه جوړ شي

رڼا هله رڼا وي چې نه شا لري نو سپورے
چې حُسن تجلې کړي مذهبونه ترې نه جوړ شي

عاشق له چنغلاتې دي هوښيار له پټ پټوڼے
قرآن نهٔ دے ادا ده اياتونه ترې نه جوړ شي

جذبې وي دعوىٰ ګيرې خو دعوې کولې نهٔ شم
خپل زړهٔ راله لګيا شي او شکونه ترې نه جوړ شي

سرتېزه په جر مستې ګډېدونکې شاعرۍ له
ټکرې ورله ورکړه چې ساختونه ترې نه جوړ شي

***





## متليزې قيصې

څهٔ قيصې لکه دَ افسانو محض دَ نصحيت دَ پاره ليکلے کېږي، هېڅ تاريخي پس منظر ئې نهٔ وي خو بيا هم دَ خپلې زمانې دَ دود دستور سره داسې سمون خوري لکه چې حقيقي واقعات ښکاري او کله چې له بده شامته دَ چا عظيم شخصيت له قلمه تحرير شي يا چا عظيم شخصيت پسې تتې شي نو دَ فائدې نه ئې نقصانات زيات شي لکه چې مونږه نن سبا دَ تصوف په کتابونو کښې ګورو او حېران ورته ناست يو، کهٔ واقعات حقيقي ګڼو نو تاريخ مسخ کېږي او کهٔ دروغ ئې ګڼو نو دَ ډېرو عظيمو ليکوالو کردار۔

زهٔ منم چې دَ مودو غلط فهمۍ زما دا لږ شان ليك نهٔ شي ختمولے، خو بيا هم کوشش مې کړے دے چې دَ اولياو نصحيت اموز واقعات دې دَ تاريخ په ځاے دَ نصحيت په تله وتللے شي۔ ما سره دا ويره هم شته چې دې قيصو سره به زما دا ليك دوه ډوله شي او دا اعتراض به پرې وارد شي چې دا يو منتشر کتاب دے او داسې يو وار ما سره شوي هم دي زما کتاب رېبارِ فلك زما يو ملګري يو مشهور شاعر له وړے وهٔ چې تبصره پرې وکړي، زهٔ ډېر تجسس کښې پروت وم چې څنګه خبر شوم چې ملګرے مې حجرې ته راغلے دے په دوو ورغلم خو چې دَ ملګري موشاده مې وليده چې ما ته ګوري او

خاندي نو ډېره غصه راغله خو ځان مې ټينګ کړۀ او ډېر په عاجزۍ مې ترې نه تپوس وکړۀ چې کتاب دې ورکړۀ نو شاعر صاحب څۀ ووې؟ هغه جواب راکړۀ چې څۀ به ئې وې چې کتاب ئې پرانستۀ نظم او نثر ئې يو ځائے وليدۀ نو کتاب ئې ډېر په معذرت سره واپس راکړۀ وئيل ئې معافي غواړم زۀ په يو داسې کتاب تبصره نۀ شم کولے چې دَ مصنف ذهن ئې منشتر وي، زما ملګري له خو دې خدائے پاك پوهه ورکړي دَ ډکې حجرې په مخکښې ئې بکواس وکړۀ او لاړۀ خو خدائے شته پوره يو مياشت بيا زۀ حجرې ته له شرمه نۀ راوتم.

ويره خو مې په زړۀ کښې پخه پرته وه خو دا دوه مجبورۍ هم لکه دَ بلاګانو را په غاړه وې، اول دا چې دَ تصوف دَ کتابونو وکالت وکړم او بله دا چې دا خبره ثابته کړم چې کۀ شعردَ هر چا وي خو دَ هر جوړ شوي شعر په شاه يوه لويه قيصه پرته وي. بس دَ دې دوو قابل قدر مجبورو په وجه مې طمعه پېدا شوه چې اُستاذان به مې معاف کړي او زما دا کتاب به په ادبي کتابونو کښې شمار کړي.

***





# ناجانه شان رحمت

دَ پوه مياشت کښې دَ مېړو يوه لويه ښاريه په قحط وزپلې شوه، جمع موړي ئې دَ کتك زولونو برباده کړې وه، باقي مانده چې څۀ پاتې وو، خېتو خلاصه کړه. دَ بدنصيبۍ تيارې پرې راخورې شوې وې. دَ وينې مينې رشتې په ماتېدو وې. دَ رواج خاصه ده چې؛

مالدارۍ نه پېدا کېږي، ګيله، ضد، ناز، اداګانې
لوږه، تنده، متهونګۍ ده، غربت نۀ لري بيبيانې

څۀ رنګ چې نمر پرېوځي نو ستوري راځلند شي، هم دغه رنګ دَ مېړو دَ فوځ يو نوميالے سالار دَ يو څو په ګوته چاڼ بهادرانو سره په يخه يخنۍ کښې بهر ووت او دَ رزق په تلاش کښې خوارۀ شول. سردار هم په يوه مخه لاړ، هم په دغه لار يو زميندار دَ غنمو پېټے په خر بار، ژرندې ته روان وو چې خر ناڅاپه وترېدۀ، په ځان بار پېټے ئې په درز راګوزار کړۀ، دَ بورۍ خلۀ پرانستې شوه، دوه درې درۍ دانې په شګو کښې خورې ورې شوې، زميندار دَ بورۍ خلۀ دوباره بنده کړه او خپلې بورۍ سره دَ عزيزولو او دَ مجبورو په سوچ پېړلے کښېناست، انتظار ئې کوو چې څوك لاروے راشي او پېټے ورسره بار کړي چې خپلو نهرو بچو له ځان ورسوي. دَ وختونو تجربه ده چې؛

دَ محنت دا یوه اوښکه، ترې چاپېره چینګې دارې
سل برګې دَ دود دَ رسم، دَ معاش په تن ولاړې

زمیندار خو پرېږده خپلې اوښکې دې تلې، دلته چې راروان سردار په شګو کښې خورې ورې دانې ولېدې سر په سجده شۀ، یوه دانه ئې ترې نه زر را اوچته کړه او دَ خپل ښار طرف ته په منډه شۀ چې باچا له زیرے ورکړي او قوم پرې راخبر کړي، متل دے؛

چې ارمان دَ چا پوره شي، خپل مئین ورته یادېږي
په خوشحالو پښنو سرتېزه، دنګ دنګ غرونه وي سر کېږي

اخر تر خپله ښاره ورسېدۀ، دَ ښار څوکېدارانو ورته په ادب دروازې پرانستې، سردار دانه په خلۀ دَ باچا تر درباره لاړ، وئیل ئې باچا سلامت مبارك شه دَ یو فرشته صفت انسان په وساطت پاك رب دَ خوراك یوه لویه ذخیره راوبخښله. بادشاه له تخته کوز شۀ، راتر غاړه ئې کړۀ او دَ ځان سره ئې په تخت کښېنوۀ. دَ ژوند قانون دے؛

چې ترې طمع پوره کېږي، در هغه دَ قلندر دے
ګوره زمکه چې غله کړي، څو عزت کۀ رنګ ئې خړ دے

باچا حکم ورکړۀ چې راځي چې بهر ورشو او دَ دغه عظیم انسان شکریه ادا کړو چې مونږ ئې دَ یو خونړي قحط نه بچ کړو، بهر په زمیندار یو لاروے راپېښ شۀ، زمیندار ورته





خواست وکړۀ او پېټے ئې ورسره په خر بار کړۀ. تلې شوې دانې په خاوره کښې خور وورې پاتې شوې او ژرندې ته روان شۀ. لار ئې دَ مېږو په ښاریه وه چې پرې تېرېدۀ نو مېږې ورته سره دَ خپله باچا په استقبال ولاړ وو، ولې دے پرې څۀ پوهېدۀ. دۀ ته په ژمي کښې مېږې څۀ عجیبه ښکاره شول، پښې ئې ترې بچ کړې او په خپله مخه لاړۀ. فرشتې له هسکه په ننداره وې، په خندا شوې، یو بل سره وګېډې او وې وئیل؛

څۀ ناجانه شان رحمت وۀ، په مېږو باندې اختر شۀ
یو چونګړے دَ یو بې وسه، څو بې وسو له لوړ غر شۀ
دوي دَ رب په مخکښې څۀ دي، بیا هم ضد دے ناپوهې ده
خو دوزخ کښې به بیا څوك وي، کۀ ئې لر دَ عقل ور شۀ

***

## دَ رب مينه آئينه ده

وايي چې حضرت موسیٰ ؑ دَ پاك رب ملاقات لره كوهِ طور ته راوبللے شۀ، شعر دے چې؛

دَ لوړ دين به څۀ منشا وي، جماتونه چې جوړيږي
ګني رب خو هر ځاے شته دے، ګني مونځ خو هر ځاے کيږي

پخوا چې لارې په خپلو اوګو وې نو اوږدې وې، نۀ هوټلې وې او نۀ موټرې، چې څوك به ماښام كوم ځاے له ورسيدۀ دَ هغوي په غاړه به وۀ. حضرت موسیٰ ؑ هم تره غوني كښې يوې جونګړې ته ورسيدۀ څۀ ګوري چې يو بوډا په مونځ ولاړ دے چې سلام ئې وجارباسۀ نو حضرت موسیٰ ؑ ئې وليدۀ. هركلے ئې ورته ووې، وئيل ئې ميلمه په مخامخ شكور كښې يوه ډوډۍ پرته ده، نيمه تۀ وخوره او نيمه ما له پريږده چې څۀ عبادت دې زده وي هغه ادا كړه او بې غمه اودۀ شه. ما ته لا خپل عبادت پاتې دے. وئيلے شي چې؛

كۀ سابۀ وي خو خوارۀ وي، چې خوړوالے وي زړګي كښې
په والله غټ تفاوت دے، په خوار كور په تريو تندي كښې

حضرت موسیٰ ؑ چې سحر پاڅيدۀ، بوډا لاهغه شان په مُصله ناست په ذكر كښې مشغول وۀ. حضرت موسیٰ ؑ دَ بوډا نه پُښتنه وكړه چې بابا ګوزران دې څۀ دے؟ بوډا ورته ووې چې





بچيه باچاهي عمر مې دے، يوه ډوډۍ مې ضرورت دے چې راپيدا ئې كړم باقي ټوله ورځ په عبادت يا په ارام كښې مشغول يم، دَ پاك رب نه ډير مطمئين او مشكور يم. حضرت موسیٰ ؑ ترې نه دَ يو مسافر په حيث رخصت شۀ؛ شعر دے چې؛

چې ترې تشه جولۍ دورمي،دغه كور نۀ دے بلا ده
روڼ تندے او ډكه غيږه، دَ رب مينه ده سخا ده

په دويمه شپه حضرت موسیٰ ؑ يو داسې ځاے ته ورسيدۀ چې دَ يو غټ خان خدمتګاران لګيا وو، خلق ئې په عزت او منت دَ ميلمستيا په خاطر دَ خان حجرې ته بوتلل، حضرت موسیٰ ئې هم بوتۀ. هلته څۀ ګوري چې دَ ډوډيو ډك ډك شكورونه پراتۀ او ديګونه باندې دي، سړي سر هر يو مسافر له بيله بيله مجمعه راوځي، هغه ترې نه دَ خپلې خېټې مقدار خوري او باقي مانده چې څۀ پاتې كيږي يوې لويې كندې ته ئې لړه كوي. حضرت موسیٰ خو جلالي پيغمبر وۀ. دَ رزق په دا دومره ناشكرۍ غصه شۀ خو زړۀ له ئې په دې تسلي وركړه چې ګني خان په دې ناشكرۍ ناخبره دے. په دې كښې چغې سورې شوې چې خان راغے. خان دَ نر زوے اول خو دَ سړو ډوډيو شكرونه او بيا دَ غوا دَ غوښو ديګونه كندې ته ورلړه كړل او خدمتګارانو له ئې په ډيره غصه حكم وركړۀ چې ولې مو

ګرمي ډوډۍ او دَ ګدانو غوښې نهٔ دي پخې کړي، زر ئې پخې کړئ ـ بس جلالي پېغمبر حضرت موسیٰ چې دا ناشکري وليده لا زيات غصه شهٔ او شپه په شپه کوهِ طور ته روان شهٔ ـ سحر چې کوهِ طور ته ورسېدهٔ نو وړومبے ئې رب ته خواست وکړهٔ چې زما دا دوه درخواسته به قبلوې ـ يو دَ هغه بوډا په باره کښې دے چې په دومره تنګ رزق کښې هم مشکور او مطمئين دے، کهٔ رزق ورله زيات کړے شي او بل دَ هغه ناشکره خان په باره کښې دے چې رزق ئې کم شي چې په قدر ئې پوې شي۔

رب تعالیٰ ورته په خندا ووې چې يه موسیٰؑ! هغه بوډا په خپله برخه مشکور او مطمئين دے تهٔ ترې نه څهٔ غواړې او هغه خان په دا دومره رزق کښې هم مرور دے او خپلو خدمتګارانو سره په جنګ دے، چې ولې دَ پاك رب په دربار کښې دَ ګدانو دَ غوښې او دَ ګرمو ډوډيو کمے دے څه؟ چې مسافر دې دَ غوا غوښه او سړې ډوډۍ خوري او تهٔ وايې چې رزق ورته نور هم کم کړه ـ ستا دَ خالق اصول دي چې؛

تهٔ چې کوم خويونه خپل کړې، بس هم هغه ستا حصه ده
دَ رب در خو سمندر دے، دَ رب مينه ائينه ده

***





# تصوف

دَ اسلام دَ عروج زمانه وه، دَ ترکو دَ يو امير کبير سړي زوے دَ زمانې دَ غوث دربار ته لاړهٔ او خواست ئې وکړهٔ چې پيره دَ قرآن دَ حکمت جنجي جوړېدل غواړم په سر مې لاس کېږده ـ پير کهٔ هر څومره پوهه کړهٔ چې دَ جنت نېغ په نېغه او لنډه صفا سوتره لار، شرك او دَ ګناهِ کبيره نه بچ کېدل، دَ پنځ بنا اهتمام، ښهٔ اخلاق او حلال روزګار دے خو ځوان ضد نيولے وهٔ چې نه خامخا به دَ تصوف دا پُرپېچه لار اختياروم ـ پير ځوان ته ووې چې څه وشوه خو لاړشه دَ خاندان نه دې اجازت راواخله ـ منم چې ايمان او فرائضو له دَ اجازت ضرورت نشته خو کهٔ څوك دَ رب په لاره کښې وجود فنا کول غواړي دَ وجود متعلقينو نه به ضرور اجازت اخلي ـ دَ دين خاصه ده چې؛

فرض قرض دے سرتېزه، شرعه نه لري شرمونه
نفل سُر تتکۍ پګړۍ ده، سل ئې شتې سل ئې نازونه

ځوان دَ مور او پلار نه اجازت وغوښتهٔ ، هغو ورته ووې چې بچيه دَ ډېرې محفوظې او مطمئينې لارې انتخاب دې کړے دے ـ زمونږ د. لورې خو دې په سل کرته مبارك شه، ځوان مطمئينه واپس راغے او دَ غوث دَ دربار ملنګ شهٔ ـ پښمنې دَ تهجد مونځ نه پس يو مريد دَ پير په حکم دے هم ځان سره

منډهۍ ته بوتهٔ. دَ ځان په شان ئې ورله دَ ورځ په اجرت لاس رېړه او په بولۍ کښې مېوه واخسته. دواړو دَ سحر مونځ په منډهۍ کښې ادا کړهٔ او دَ مېوو دَ خرڅولو دَ پاره دَ ښار کوڅو ته راووتل. ځوان خو دَ خان زوے وهٔ، شرمېدهٔ په دې وجه ئې دَ ملګري نه خرڅون کم وهٔ. پير سبا له دَ کوڅو نه دَ بازار چوك ته ولېږهٔ چې په محنت دَ شرمېدو احساس ئې ورك شي.

دغه ځوان هم دغه شان لګیا وهٔ، دَ سحر مونځ په منډهۍ او باقي مونځونه په بازارونو او شپه په لنګر خانه کښې، خبره وه خورېده. دَ خان نوکران خپل خپلوان او په اخره کښې په خپله خان خبر شهٔ چې زوے دې په بازار کښې مېوې خرڅوي، له اوله ئې په خپله په منت غصه او زارۍ منع کړهٔ خو چې هېڅ فائده ونهٔ شوه نو پير له په ګيله ورغے چې يه پيره! خلق به مې ظالم ګڼي چې په دا دومره شتو کښې ئې زوے چابړې ماري کوي. پير ورته جواب ورکړهٔ چې خان ما خو اجازت له درلېږلے وهٔ اوس چې اجازت دې ورکړے دے نو دا غم خو به ئې زغمے او واقعي چې خان دغه غم په زړهٔ تېر کړهٔ او خپلې مخې ته ئې ازاد پرېښودهٔ. شعر دے؛

دَهر کار خپله مزه ده، کهٔ خويونه کهٔ عهده ده
ژوند چمن دے ژوند ډېران دے، دَ بورا ګونګټ قيصه ده





وخت وهٔ تېرېدهٔ، تجربه او رزق وهٔ زياتېدهٔ، ځوان دَ رېړې نه دکاندار، د. دکاندارۍ نه اړهتي او دَ اړهتي نه بېن الاقوامي تاجر شهٔ. په مريدانو کښې چې به دَ چا څهٔ ضرورت وهٔ يا به دَ لنګر خانې څهٔ خرچه وه دَ دهٔ په غاړه به وه. پير هم ضغيف شوے وهٔ. اخر دَ تصوف دَ دستور مطابق دَ نصيب ورځ راغله. دا ورځ دَ هر غوث په ژوند کښې صرف يو وار راځي چې دَ هغه دَ ټولو دربارونو په ګوته چاڼ مريدان يو ځاے شي او دَ مخکښې ژوند دَ پاره ورله خلعتونه ور په غاړه کړے شي.

صدر خادم دَ پير په حکم دَ هغهٔ تخت سره پينځهٔ کرسۍ واچولې. پير راغے او دَ جلسې کاروايي شروع شوه. دَ هر مريد دا تمنا وه چې هغه له به په دې پينځو عهدو کښې يوه عهده ورکړے شي. پير خو له اوله په خپلو عالمانو مريدانو کښې يو لوے محقق او مجتهد عالم مريد له اواز ورکړهٔ او وړومبۍ کرسۍ ډکه شوه. بيا ئې په خپلو مجاهدينو مريدانو کښې يو مشهور سالار راوغوښتهٔ او دغه رنګ دوېمه کرسۍ هم ډکه شوه. درېمه کرسۍ په ملنګانو مريدانو کښې يو داسې مريد له ورکړې شوه چې همېشه به په ځنګل کښې پروت وهٔ او ذکر به ئې کوهٔ. څلورمه کرسۍ صدر خادم ته په حواله شوه. ځوان په زړهٔ کښې ووې چې يوه عهده علم له، دوېمه جهاد له،درېمه ذکر له او څلورمه خدمت له ورکړې شوه نو کهٔ خېر وي پينځمه به ضرور دَ سخاوت او غِنا په غاړه کېږي چې زما پکښې هډو څوك رقيب

نشته او هم دغسې وشوه۔ پیر تر څهٔ وخت خو غلے ولاړ وو بیا ئې دې ځوان له اواز ورکړهٔ چې په خپل ځا ے ودېږېږه او صدر خادم ته ئې ووې چې دا کرسۍ دَ دغه ځوان ده خو چې کله ئې قابل شي ور په حواله ئې کړئ ۔ دَ دې کارواییۍ نه پس پیر خپل صدارتي خطاب شروع کړهٔ او هر زړهٔ ته پکښې خپل خپل جواب ملاو شهٔ۔وایي چې؛

ښهٔ خطاب ښائسته جواب وي، چې زړګي پرې مطمئین شي
مشري خو معشوق توب دے، چې پرې ټول خلق مئین شي

پیر په خپل صدارتي خطاب کښې ووې چې دین دَ ژوند دستور او دَ کړنې لارې دې او تصوف په دغه لارو داسې مطمئینه او محفوظه تګ دے چې دَ دنیا دستورونه دَ هغې سیالي نهٔ شي کولے۔ پیر په رموز رموز کښې دَ خالي پاتې پینځمې کرسۍ وجه هم په ګوته کړه چې دا ځوان دَ خپل پلار نه لا په تجارت کښې ولې وروستو پاتې دے چې هغه صرف په دنیاوي دستور روان دے او دے دا دعویٰ لري چې زهٔ دَ عقل دَ معراج یعنې دَ تصوف مدعي یم۔ دَ تصوف دعویٰ ده چې؛

دَ رب فضل سمندر دے، مذهبونه بَتکونه
تصوف دَ زړهٔ رڼا ده، او موندلي ګودرونه

***





# فطرت

یوې مرتبې ته رسېدلے پیر دَ سیند په غاړه په ذکر کښې بوخت ناست وهٔ، یو لړم ئې ولیدهٔ چې اوبو ته پرېوتے دے ، پیر بې اختیاره لاس ور واچوهٔ چې راوئې باسي ۔ دَ فطرت خاصه ده چې؛

ډېرې کړے شي بې اختیاره, سل سینګارې بې له یاره
نه،څوك پټ جلب په لاس دے، اوښان نهٔ ځي بې مهاره

پیر چې څنګه لړم راپورته کړهٔ ټك ئې ورکړهٔ او واپس ترې اوبو ته وغورځېدهٔ۔پیر لاس وڅنډهٔ ، دوباره پرې ورغوټه شهٔ خو لړم بیا ټك ورکړو او واپس هم هغه اوبو ته لاړهٔ۔ پیر چیچلے شوے ځا ے په غاښونو کښې وسوکندهٔ، لوستونې ئې راښکهٔ او چې څنګه پرې بیا ورغوټه کېدهٔ، یو لاروي چې دَ دهٔ په شا دَ دهٔ په تماشه ولاړ وهٔ په اوږه ئې ورله لاس کښېښودهٔ او ورته ئې ووې، لړم خو ازاري ځیز دے بچ کېدل ئې نهٔ وو پکار، بیا په بچ کېدو چې دې دوه واره ټکونه وخوړهٔ او په درېم وار پرې بیا ورغوټه کېږې کهٔ تهٔ ځان هر څهٔ ګڼې خو په والله ما ته خو پاك ساك لېونے ښکارې ۔ پیر جواب ورکړهٔ چې نه ګُله! زهٔ او لړم

دواړه روغ موټ یو، زمونږ دا نښته دَ مسلکونو نه بلکې دَ فطرتونو ده ـ لړم ته ځان ښهٔ ښکاري چې کهٔ دَ اوبو نه وښهٔ وتم نو مرم، خو بیا هم دَ خپله بده خویه نهٔ توبه کوي نو ولې زهٔ درته دومره بې حسه ښکارم؟ چې په دې لږ شان درد دې له خپله ښهٔ خویه توبه ګار شم ـ قرآن مجید خو ما له دغه پوهه راکوي چې؛

اصل دین انسانیت دے، ټولې پوهې رواجي دي
پېغمبر رهبر مشال دے، مذهبونه فطرتي دي

***





## خویونه

اورېدلي مې دي چې دَ مور حوا بي بي لوڼه په جوسه خو یو رنګ خو په خویونو ځلور قسمه دي، او هر خوي له بله داسې تفاوت لري لکه چې بېخي اصل نسل ئې جدا دے، راویانو چې دا متضاد خویونه ولیدل نو مختلف جوازي قیصې ئې ورله تخلیق کړې او هر راوي خپله قیصه خپل مذهبي مجدد پسې نتې کړه ـ

دَ دغه ټولو جوازي قیصو لب لباب دغه یو تصور وهٔ چې کله پخوا انساني نسل کم وهٔ او ټول په یوه خطه کښې وسېدل، په دغه خطه یو داسې عذاب نازل شهٔ چې دَ وخت مجدد او دَ هغهٔ دَ څو ملګریو نه علاوه پکښې هر څهٔ لاهو شول، په بچ شویو کسانو کښې چې کومه زنانه ژوندۍ پاتې شوې وه هغه دَ خپلې زمانې دَ یو معززې کورنۍ یو دروند خصلته پېغله وه ـ

دَ عذاب نه پس دَ وخت مجدد بچ ناوادهٔ کړي ځوانان چې ځلور وو، له حکم ورکړهٔ چې هر یو کس دې خپله خپله ډولۍ راوړي۔ ځلور واړه ډولۍ راغلې ـ دَ وخت مجدد دَ وخت دَ شریعت مطابق دعا وغوښتله او په یوه ډولۍ کښې ئې کوترۍ، په بله کې پشونګړۍ، په درېمه کښې کوچاڼې او په

څلورمه کښې ئې هغه دروند خصلته پېغله کښېښوله ـ دَ رب قدرت ته ګوره چې ټولې په يو رنګ او جوسه شوې ـ اوس ئې څوك نهٔ پېژني خو خويونه ئې په خپله خپل ځان ښايي، لکه؛

ځني ښځې شپه او ورځ لکه دَ سپې غاپي، کور محلت ترې نه په اور کښې ولاړ وي ، دَ ځنو ښځو په پښو کښې دَ پيشو هډوکي وي، چې سحر له کوره وځي او ترماښامه ئې لس اتهٔ کوره نهٔ وي کچ کړي نو ارام نهٔ ورځي، ځني ښځې پوارې وي دَ کور نه ئې غوجل جوړه شوې وي او ځنې درنې، خوږې، سليقه مندې دَ پلارګنې يا دَ سخرګنې په کور کښې په عزت ناستې وي او دَ خپلو فرائضو خيال ساتي ـ دا څلور واړه خويونه ځان په خپله ښايي چې څوك دَ سپو، څوك دَ پيشو، څوك دَ کوچانې او څوك دَ بي بي اولاد دے ځکه خو هوښياران وايي؛

چې غپېږي توره سپې ده هردرې غله پيشونګړې ده
سخا درنګه لُور دَ کوچانې کهٔ جينې دَ رب ډالې ده

يقيناً چې داسې نه وه دغه پېغمبري غوښتلې شوې دعا صرف دَ جوسو دَ يو شان والي دَ پاره نه بلکې دَ خويونو دَ يو والي دَ





پاره هم وه ، په هر جينۍ کښې دا څلور واړه خويونه موجود دي ـ اوس دَ هغې خوښه ده چې هغه دَ کوم مقام مالکه جوړېدل غواړي بس هغه خوي دې رابرسېره کوي ـ اصول دي چې؛

په خويونو ده سرتېزه، نهٔ په زين ده نهٔ په کته
ذات ئې دروند دے او کهٔ سپك دے، معلومېږي له عادته

***

## مونځ

یوه ورځ یو خسته حاله مرید راغے او خپل پیر ته په یوه ساه لګیا شۀ لکه چې دَ احساس کمترئ له ډکه تنوره څوك يكدم سرپوخ اوچت کړي او وې وئیل چې ؛
پیره حق دے رب بینا دے، پیر وئیل بې شك برحقه، نو بیا ولې زۀ غرقېږم؟ کۀ هر څومره یم په حقه۔
اخر پیره داسې ولې؟ په خپل حق شمه وژلے؟ دَ خپل ځان عاشقان پړۀ کړي، بې اودسه په مونځ ورۀ کړي، خوار وي خوار زردار زردار دے، مونځ جوړ تش دَ جنت ښکار دے۔
پیر پرې پوۍ شۀ چې یار مایوسیو راپه مخه کړے دے، موسکے شۀ او په خندا ئې ورته ووې۔

مونځ دَ خپل تن تربیت دے، دَ دین نۀ زده حاجتونه
مونځ تلقین دَ طهارت دے، ستا خیرن خیچن کارونه

مونځ دَ روح خوشحالېدل دي، ستا له دود سره جنګونه
مونځ دَ وخت قدر منل دي، ستا اُحد کښې طوافونه





مونځ پُر عدله سلسله ده، ستا له فرضه پس نفلونه
مونځ دَ سوچ مراقبه ده، ستا په دواد او ضواد جنګونه

مونځ جوړښت، احساس او مینه، ستا په زړۀ کښې نفرتونه
مونځ دَ ژوند لاره حسینه، تۀ کوې عبث تولونه

مونځ الفت دے هم وفا ده، مونځ سرخېل دَ عبادت دے
مونځ رضا دَ پاك الله ده، مونځ دَ لوړ دين شفاعت دے

مونځ خو پاکه باچایي ده، باچايي خويونه غواړي
مونځ دَ روح دَ تن مستي ده، جنتي سُرونه غواړي

مذهبونه کۀ جُدا دي، خو خالق او فطرت يو دے
ټول استازي مسيحا دي، دَ اديانو دعوت يو دے

کۀ منکر دے بختور دے، کۀ باغ نۀ وي مېوه واخلي
هغه کس باندې افسوس دے، چې دے شنډ بوټي راواخلي
***